# د پښتو ځانتنی ادب او موسیقي

لیکوال

مرحوم غلام جیلاني جلالي

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

۱۳۶۰

د

# پښتو ځانتنی ادب او موسیقی

لیکوال

مرحوم غلام جیلانی جلالی

خپروونکی

دافغانستان دعلوموا کاډیمی

دژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز

پښتوټولنه

۱۳۶۰

PROPERTY OF ARIC

## سریزه

دژبو او ادبیاتو دعلمی او تحقیقی مرکز دفولکلور او شفاهی ادب مدیریت ویاړي چې په روان کال کی له دې څانګی څخه دمرحوم استاد غلام جیلانی جلالی اثر دپښتو څانتنی ادب او موسیقی په نامه یوه خوندوره رساله له چاپه څخه راباسی څرنګه چې په دې اثر کی په لنډیو- داتې په نارو- دښادئ په بدلو او په سپرو بدلو اونورو سندرو او هم اولسی موسیقی بحث شوی چې دفولکلور ځینی خواوې بشپړوي نو لازمه ده چې دفولکلور په ارزښت را ټولو لو او خوندي کولو څه ووایم :

فولکلور چې دهر ملت دکولتور تکاملی ریښه ده او زموږ ګران وطن (افغانستان) دآریایی قومو نو دلرغونی فولکلور زانګو ده نو دفولکلوري موادو را ټولو نه او څیړنه دهر یوه بادر ده انسان وظیفه ګڼله کیږي څکه چې داولس دپانګی خوندي کول زموږ دژوند په کړو وړو کی ژوره اغیزه لري او زموږ ټول تیر افتخارات را یادوي او دښو او بدو څخه یی موږ خبړل را تلو نکی ژوند سمبالوو اودافولکلوري مواد داولسی ادب هغه خوندوري مرغلری دي چې

« الف »

تر اوسه دخلکو په سینو کی پرتی اوخوري وري دي چې را ټول او نه اوخو ندي کول یې د پښتو داولسی ادب په مجموعه کی غنارا ولی او دا ځکه چې زموږ داولس داوږدو تجربو په ترڅ کی لاس ته راغلی چې که موږ یې پـه غور رسره وگورو نو داولسو نـو اقتصادي وضعه ټولنیزې اړیکی او کولتوري ارزښتو نو په باب به ژور معلومات تر لاسه کړو ځکه زموږ ټولنه دفولکلور یوه لویه خـزانه ده چې که وڅېړل شی نو یقیناً به دتاریـخ ټولنپوهنی او وگړپوهنی په برخه کی ډیر مواد زیات کړي .

پر کتاب باندې ښاغلی زلمی هیوادمل په خپله مقدمه کی هراړخیز او بشپړ بحث کړي چې له دوو برخو څخه جوړ دی :

اوله برخه دلیکوال پیژندگلوي ده چې په دې برخه کی لیکوال بشپړ پیژندل شوی او دوهمه برخه درسالی معرفی ده چې په هغی کی درسالی پـر پیژ ند نـه بحثو نـه‌شوي دي علاوه پـر دې دکتاب متن توضیحات هم دهیوادمل لـه خـوا ترتیب شوي او کتاب یې په داسی ډول اډیت کړی ، چې دهغه دنثر خصوصیا تو ته زیان و نه‌رسوی ، دا نثر دهغه وخت دشرایطو مولود دی ، موږ یې باید په خپل شکل نشر کړو . فکر کوم چې دغه څېړنی بـه بس وي . اوس تاسی ددې رسالی څېړ نـو او لوستلو ته را بولم او هیله لرم چې ددې رسالی په نشر سره مو دخپل فرهنگ په ځلو لو کی یوه برخه اخیستی وي .

په درناوي

څېړ نیار مصطفی «نـژدې»

دفولکلور او شفاهی ادب لوي مدیر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ توکه

دښوونی اوروزنی مطبعه

PROPERTY OF ACKU 7409

# دپښتنې فولکلور دمعرفي لومړني رساله

زموږ د ادب په معاصر تاريخ کې د پښتو ژبې او ادب له پاره دمنظم او پر له پسې نغښتې کار پيل د اماني غورځنګ (۱۳۳۷-۱۳۴۷ هـ-ق) په لسو کلنۍ دورې پورې اړه لري. په دې دوره د دغې ملي ژبې د ودې او روزنې له پاره په رسمي توګه د «مرکه د پښتو» په نامه موسسه جوړه شوه. د دغې موسسې د تاسيس کال ل ۱۳۰۱ هـ-ق و، چې په ۱۳۰۲ هق کال د افغانستان د اساسي تشکيلاتو د نظامنامې په ۴۷ ماده کې د پوهنې دوزارت د دريم رياست په توګه ومنل شو، او د همدغې نظامې د ۵۵ مادې له مخې يې وظيفه. د پښتو ژبې د اصولو او قواعدو ضبط او تدوين، او د درسي کتابو نو ترجمه او نقلول ښودل شوي دي (۱) سربيره له دغې مرکې د هيواد په ځينو سيمو کې جرايدو هم په خپرونو پيل وکړ؛ چې پښتو منظوم او منثور و توتوهم پکې د چاپ موقع درلوده.

په اماني دوره کې په پښتنې سيمو کې د پښتو عريضو کښلو هدايت هم د پاچا له خوا ورکړ شو* او هغه عريضې به چې پاچا ته له دغو

---

* دامير عبدالرحمن (۱۲۹-۱۳۱۹۷ هق-) په وخت کې هم پښتو عريضو ته دعرض بيګی له خوا پښتو جواب کښل کيده. لکه دحاجی محمد اکبر هوتک (۱۲۳۸-۱۳۱۷ هق) پښتو منظومې عريضې ته دملامحمد (۱۳۰۵ ش مړ) عرض بيګی منظوم پښتو جواب (دپښتو دادب تاريخ ص ۱۲۰)

«۱»

سیمو ور تلـلی، ځواب به یې هم په پښتو لیکل کیده. دطلوع افغان؛ د ۱۳۰۰ شن کال په ٤٤ گڼه کې د اعلیحضرت امان ا لله خان یو پښتو فرمان چاپ شوی، چې د پورتنیو خبرو د ثبوت ملا تړ کوي. د غـه نهضت د پښتو آثارو د نشر له پاره قسماً کار وکړ، او د پښتو د دې

دمعاصر نهضت پیل هم له دې وخته وشو. تر ۱۳۰۰ هـ ش کال وروسته ورو ورو په لره او بـره پښتو نخو اکې د ځوانې مرا حلو ته داخل او پر له پسې بشپړ یدو نکی اود پر مختیا پـه حـا ل کـی شـو. د پښتو د معاصر ادب د پیل د وره هم د پښتو ځینې اد بی مو رخین له همـد غه مها له گڼي (۲).

د ۱۳۱۱ هـ ش په شاوخوا کې د پښتو دادبی نهضت د پر مختیاد پاره طلوع افغان گرده په پښتو خپور شو (۳) او په همدې کا ل د کند هار پښتو اد بـی انجمن په فعا لیت پیل وکړ، او «پښتو مجله» هم له د غـه ا نجمنه خپر ه شوه. د دغه مها ل منورو پښتنو اد یبانو ــ چې معمولاً یې له نشر یا تو سره سرو کار لار ه ــ په پښتو شعر کې د مضمون او شکل له پلوه نوي تحو لا ت را اد مخه کړ ل. د شعـر مضمون خود سراج الا خبار افغا نی (۱۹۱۱-۱۹۱۹ ع) دخپر یدو په مهال کې د ژوند او ملی او اجتماعی مسا یلـو خواته مخه کړې وه؛ مگر په شکلی لحاظ په هماغو لر غونو قا لبو نو کې چې ـ له زرو کا لـو راپدې خوا زموږ په ژبه کې و یناوا لو پرې خپله طبع از مایی کړې وه ـ و یل کیده. په دغه دوره کې موږ په لره او بـ ره پښتو نخوا کې د شعر د فورمی بد لون خوا ته هڅې هم

لیدلای شو، او دطلوع افغان دهغه وخت پاڼې موږ ته «آزاد و» شعرو نو ځینې نمونې هم تر ګوتو کوي . د دغه وخت شاعرانو او دیبانو پر شعر سر بیره نثرونه هم لیکلي دي؛ چې دغه نثرونه دفورم په لحاظ په خاص سبک پوري اړه لري. چې موږ یې دپښتو دننني مطبوعاتي نثر لومړنۍ بولګې ګڼلای شو. دغه نثرونه دعربي او پارسي ژبو اثرات ډیر منې، جملې یې خاص ترکیبونه لري ؛ چې زسوز په اوسنی نثر کې نشته .

دموضوع په لحاظ دهغه وخت نثر غني دی. سیاسي ، اجتماعي اقتصادي؛ ادبي ، تاریخي؛ ملي؛ اسلامي ، کلتوري ، ژبني او نورموضوعات رانغاړي .خو دغه مضامین زیاتره تخصصي نه دي؛ او هرچا په هره موضوع کې مقالې ،رسالې او کتابونه لیکلي دي. نو ځکه هغو لیکوالو چې ددغه ادبي نهضت په پیل کې قلم چلولی دلیکوالۍ له پلوه مختلف جوانب لري ؛ چې دنن ورځې ،لیکوال دهغه وخت پر لیکوالو دخبرو په وخت کې دې ته اړ دي چې هر اړخیزې خبرې پرې وکړي .

دغه رساله چې اوس چاپیږي دهماغو شرایطو زیږنده ده او محترم مؤلف یې هم دهغو شرایطو تابع دی چې دوخت له غوښتنو سره سم یې له پښتو او پارسي شاعرۍ سربیره ، دتاریخ، ادب، اجتماع، اقتصاد، اخلاق، جغرافیه ، سیاست او فلسفې په څانګو کې قلم چلولی دی . پښتنې فولکلوري یې راټول کړې او اخباري لیکنې یې هم کړې دي. په دې خیر نه کې لومړي درسالې دلیکوال معرفي در لیکم، او بیا پر دغه رساله خبرې کوم :

# د رسالي ليکوال

پيژندنه: په ١٣١٤ هق کال، د لرغونو افغاني ښار و د ناوې (غزني) ښار ته نژدې د واغز د مير زيو اندړو په يوه علمي او درنه کورني کي يوه ماشوم نوې دنيا ته سترګي پرانستې. دغه ماشوم دار و اښاد عبدالستار په کور کي وزوکيد. پلار پر نوم «غلام جيلاني» کښېښود. ماشوم غلام جيلاني ابتدايي ديني او عربي علوم د خپلې علمي کورني په ماحول کي ولوستل. داوولسو کالو ځوان ؤ، چي د علم د حاصلولو په منظور کابل ته راغي. او په شاهي مدرسه کي شامل شو. د مدرسي د تعليمي نصاب سره سم يې د لې: منطق، عامه امور، فلسفه او حکمت و لوستل. اته کاله د دغي مدرسي شاګرد ؤ، چي عمر يې پنځويشتو کالو ته ورسيد. د مدرسي علمي امتحان يې تير کړ. تر بريي وروسته سملاسي د پروان د قضا وکيل و ټاکل شو، يو نيم کال يې دغه دنده ترسره کړه، بيا يې ځان ځني وزګار کړ، او بيرته کابل ته راغي جديده علوم يې ولوستل د ښوونکي مقدسه وظيفه يې غوره کړه. تر معلمي وروسته سرمعلم او بيا د کابل د معارفو مدير شو. بيا د پوهني په وزارت کي پلټونکي و ټاکل شو. تر ١٣٠٣ ه ش کال وروسته څلور کاله د پکتيا او قطغن د معارفو مدير ؤ. تر ١٣٠٨ ه ش کال وروسته يې د مطبوعاتو عالم ته لاره پيدا کړه، شپږ کاله په مطبوعاتو کي ؤ. بيا د تاريخ ټولني له مرستيالي څخه د کابل د پوهني مديريت ته مقرر شو. په دغه موده کي دوه کاله د کندهار د پوهني مدير هم ؤ. په ١٣٢٢ ش کال کي د پښتو ټولني د لغاتو مدير

اودآریانا دایرةالمعارف په غړیتوب وټاکل شو. اود ۱۳۲٤ کال په اوایلو کی دپوهنی وزارت ته تبدیل او دعربی دارالعلوم دلوي مدیر په توګه وټاکل شو. په ۱۳۲۵ ش کال دادبیاتو په پوهنځی او متوسط دار-المعلمین کی د پښتو او پارسی ادبیاتو استاد ؤ. په ۱۳۲۸ ش کال د پښتو-آریانا دایرةالمعارف د ټولنی مشر وټاکل شو. له۱۳۲۹ ش کال وروسته بیاغزنی ته ولاړ، او له۱۳۳۱ ش کاله وروسته دغزنی د مطبوعاتو مدیر اودسنایی د ورخپاڼی چلوونکی ؤ، تر دریو کالو مدیریت وروسته بیرته کابل ته راغی، اودآریانادایرةالمعارف د ټولنی د رئیس په توګه وټاکل شو، په دغه وخت کی آریانا دایرةالمعارف بیرته د پوهنی په وزارت پوري ملحق شو، اودی په خپله خوښه د ادبیاتو او حقوقو د پوهنځیو او دارالمعلمین داستاد په توګه په کار وګمارل شو. په ۱۳٤۲ ش کال کی یی تقاعد واخیست ، رسمی چاری یی پریښووي او په خپلو علمی چارو بوخت شو. د ۱۳٤۳ ش کال نه وروسته تاریخ ټولنی دضرورت له مخی دی بیرته داجیر په توګه استخدام کړ. او د ۱۳٤۸ ش کال تر شاوخوا پوري دلی ؤ بیا پر کورناست وخو دعمر تر پایه یی خپل وخت په مطالعی او دمملکت فرهنګ ته په خدمت تیراوه خوچی د۱۳۵۹ ش کال داسد په ۱۳ نیټه او د ۱٤۰۰ ه ق کال درمضان-المبارك په درویشتمه نیټه د۸٦ کالو په عمر خپلی جامی کت کړي، او له دي فانی دنیا ولاړ. (اناللهوانا لیه راجعون ).

ده د عمر په دغو۸٦ کلو کی د زده کړي، مطالعی ، لیکلو ، او

د خلکو د روزلو، او تدریس وظیفه درلوده. د ژوند په دغه دوره کې یې ډیرشاګردان وروزل. په سلګونو مقالې یې ولیکلې، او په لسګونو کتابونه یې تألیف کړل. پښتو او پارسي پاخه اشعار یې وویل، چې د مملکت د فرهنګي غنادلارې دزیار ګالونکو په ډله کې دد ریدلو حق لري.

او پر موز دي چې نوم یې تل ژوندي وساتو، او د خپل ادبي او فرهنګي تاریخ په پاڼو کې یې په ښه نامه ددغې لارې د یوه مشر او استاد په توګه نمانځنه وکړو، آثار یې چاپ کړو، او عملي د نیا یې له فرهنګي او علمي زیار ه او مښود ه خبره کړو.

استاد غلام جیلاني جلالي سربیره په لوړ علمي صلاحیت او ادبي مترې، دنورو صفاتو خاوند هم ؤ. د پښتو قدرمن لیکوال استاد بینوا کښلي دي: «ښاغلی جلالي طبعاً نرم، خوش خلق او متواضع سړي دی»(٤).

داستاد د ښو اوصافو په باب داستاد بینوا تر لیك ۲۲ کاله د مخه په ۱۳۱۸ ش کال کې مرحوم استاد خادم(۱۳۵۸ش مړ) دده په باب کښلي وو: «دی طبعاً نرم، برده بار، خوش خلق او منکسرا لمزاج سړی دی. دده د خولې څخه هیڅکله سختي او سپوري نه اوریده کیږي» (٥). داوو، داستاد داوصافو په باب دده ددوو تنو معاصرو لیکوالو نظر یې، او یقیناً چې مرحوم جلالي به ددغسې حمیده او صافو ښتن ؤ. په لاندې کرښو کې به دده دعلمي او ادبي هڅو په باب لږ لږ وږغیږو:

و دابه‌ز یاته کړو، چی ده علم و ادب ته څه کړي دي:

## مرحوم جلا لی د مؤرخ په توګه:

په شرق کی د تاریخ لیکنی دود ډیر قدیم دی، او مؤرخینو په عنعنوي ډول د خطی اسنادو، روایاتو، کتیبو او نورو مدارکو په بنا خپل مطالب په تاریخی کتابونو کی تر بیلا بیلو عناوینو سره راټول کړي دي. او د تبویب له پلوه هر چا په خپل ذوق تاریخونه په ګلشنونو، چا په لمعو او چا په منظرو ویشلی، او ترموږه رارسیدلی دي.

غلام جیلانی جلالی مرحوم د غه قدیم دود د ښه پالنی او دده په لیکنو کی غټه برخه تاریخی لیکنی لري، چی زه د ده دغه ډول لیکنی لاندې ښیم:

(۱) غزنه و غزنویان: د استاد غه پنډ تاریخی کتاب چی د غزنی او غزنویانو په باب په زړه پوري مطالب لري، په دریو منظرو یوې نتیجی او په پای کی د «ارباب حل و عقد» ترسرلیك لاندې په یوه مفصل بحث پای ته رسیدلی دی. ده په دې کتاب کی ډیر معتبر او کره معلومات راغونډ کړي. دافغانستان نومیالی مؤرخ لوي استاد پوهاند عبدالحی حبیبی دد غه کتاب په باب لیکلی دي:

«دانشمند محترم غلام جیلانی جلالی از مؤلفان و محققان پیش قدم افغانستان اند، که ازمد تها در رشتهٔ نویسندگی و تاریخ کار کرده و آثار مغتنم و مفید ی رانوشته اند. ودرهرد و زبان پښتو و دري از نویسندگان سابقه دار و پرکار بصیر شناخته شده اند.

جناب ایشان اینك کتابی در تاریخ غزنویان وغزنه‌و متروکات آن که دارای معلومات بسیار جالب بوده‌واکثر آبدات و متروکات این شهرباستانی را دراین کتاب یانقل کتیبه های قدیم آنجا ثبت و حفظ کرده اند. کاریست بسیار مغتنم و تازه که قبل ازین کسی درآن باره بدین تفصیل وتحقیق وارد نشده بود» (٦)

دغه کتاب په مناسبه قطع په ۱۳۵۱ ش کال ۳٤٤ مخه د بیهقی دکتاب چاپولو مؤسسی له خواچاپ شوی دي .

(۲) آثارومتروکات ال ناصر غزنه :دمرحوم جلالي دآثارو په فهرست کې په دې نامه د یوه ځانتنی کتاب یا دونه شوې چې په ۱۳۳٥ ش کال کی یې د خوشحال خان جایزه‌هم گټلې‌ده . مگر دغه کتاب تراوسه په مستقل ډول نه دی خپور شوی . استاد ور ځنی ځینی مقالی‌دآریانامجلی‌د۱۳٤۳ کال‌په گڼو کی‌خپرې کړې‌دی‌چی لومړنی مقاله یې ددغی مجلی د۲۳ کال په ٦ گڼه کی خپره شوې اوبیا مسلسلی پسی راغلی دي،اواستادله دغه کتاب څخه د(غزنه‌و غزنویان ) په تألیف کی هم زیاته استفاده کړې ده .

(۳) برمکیان بلخی : دغه تاریخی اثرزموږ دهیواددا سلامی دورې‌دیوې برخې‌تاریخ روښوي . د بلخی برمکیانو کورنۍ‌دعباسی دولت له مهمو ارکانو، اوداسلامی فرهنگ،مدنیت اوعلمی حرکت بنسټ ایښودونکی‌دی . استادددغی‌کورنۍ په باب مفصل‌تاریخ‌لیکلی چی تر اوسه‌نه‌دی چاپ، اوداطلاعا تو او کلتوردوزارت دجوایزو

په ځانګه کې محفوظ دی .

(٤) واقعات چنگیز و چنگیز یان در افغانستان: دمرحوم جلالي دغه کتاب هم تراوسه چاپ نه دی، او تر ۱۳٤۰ ش کال دمخه تاریخي ټولنې ته سپارل شوی دی .

(٥) دمصر مختصر تاریخ له ۵۰۰۰ ق م څخه تر معاصرې دورې پورې: داستاد دغه رساله د کابل کالنۍ په دریمه ګڼه کې خپره شوې ده (٧)

(٦) نامهٔ احمد شاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی : دا هم تاریخي کتاب دی ، چې په ۱۳٤٦ ش کال دتاریخ ټولنې له خوا داستاد جلالي په تحشیه او تعلیق (۱۵۱ مخه ) چاپ شوی دی دغه کتاب لومړی په متفرق شکل دآریانا په مجلو کې چاپ شوی دی، او بیایې کتابي بڼه غوره کړې ده. ددې کتاب په پیل کې لوی استاد پوهاند حبیبي کښلي دي : «... څو چې اعلیحضرت احمد شاه بابا په اخر کې مؤفق سو، چې دیوه متحد او آزادافغانستان بنسټ بیا کښیږدي افغانستان داولس هغه تاریخي عظمت تجدید کړ، کوم چې دوی په پخوانو تاریخي دورو کې دغزنویانو، غوریانو، لودیانو ، سوریانو غلجیانو، هوتکیانو او نورو افغاني شاهانو په رڼو زمانو کې درلود .

داوړه رساله داحمد شاهي دورې یوه ورکه پاڼه ده، چې د ده پخپل په یوه شاهي لیك کې ډیر و رك او تاریك وقایع بیانیږي» (٨) ددغه لیك متن داستانبول د سلطنتي ارشیف له واحدې خطي نسخې څخه ترتیب شوی دی.

(۷) تاریخ هرات قبل از اسلام : مرحوم جلالی دهیواددگـوټ گوټ دتاریخ په باب دمقالو، رسالو او کتابو دلـیکلو په تـرڅ کی زموږ دهیواددیوه لرغونی او تاریخی ښار هرات داسلام ددمخنی زمانی دتاریخ په باب هم یو کتاب گـوټی کښلی دی، چی یـوه برخه یی دپنځو مقالو په کالب کی کابل مجلی خپور کړی دی، او بشپړ کتاب پنځه کاله د مخه استاد د اطلاعاتو او کلتور دوزارت دمطبوعاتی چوایزو څانـگی تـه سپارلی ؤ .

(۸) داولی اعدادیـی تاریـخ : دغه تاریخی اثر هم دوی کښلی او چاپ ته چمتو شوی ؤ .

## مرحوم جلالی دجغرافیه نـگار په توگه :

استاد جلالی په دې خصوص کی له ځینو ضمنی، غیر مرتبو لیکونو او متفرقو مقالو سربیره دافغانستان دطبیعی جغرافیا په باب یوه کوچنی رساله هم کښلی، چی په ۱۳۱۳ش کال په کابل کالـنی کی خپره شوې ده (۹) استاد په دې مغتنمه رساله کی د افغانستان په طبیعی جوړښت غرونو، سیندونو، ځنگلونو او له موضوع سره مربـوطو نورو موضوعاتو باندې جالب بحثونه کړي، چی دهغه وخت لـه شرایطو سره سم مفیده او داستفادې وړ رساله گڼله کیږي .

## جلالی دښوونـکی او درسی کـتابو دلیـکوال په توگه :

داستاد غلام جیلانی جلالی دعمر زیاته برخه په معارفو کی تیره شوې ده . په دې لړ کی ده دښوونځیو له معلمی نیولی د پوهنځیو

تر استادۍ پورې علمي مراکزو اومدارسو کې دعلم او فرهنګ په ترويج او تدريس کې برخه لرلې ده . په دې خصوص کې ددوی له درسي يادداشتو سربيره چې يې شاګردانو ته ترتيب او تدريس کړي . دغه لاندې کتابو نه هم ددغه هدف د پاره ليکلي او ترتيب کړي،چې ځينې يې چاپ اوځينې يې لاچاپ هم نه دي :

(۱) دپنځم ټولګي حساب : چې (۱۵۰۰۰) ټوکه دپوهنې وزارت له خوا خپور شوی دی .

(۲) داندلس مدنيت دغه مصور کتاب يې دپوهنې وزارت له پاره ترجمه کړی ،اوچاپ دی . (۳) تاريخچهٔ افغانستان و شعر آن : چې دځلرمې رشيد يې له تعليمی نصاب سره سم يې تألیف کړی دی (٤) تاريخ اکتشافات طبيعی،رياضي جغرافيه يې د لومړۍ اعدادیې دپاره تألیف کړی،اوچاپ شوی نه دی .

## استاد جلالي او د پښتو ادب په باب څېړ نې :

مرحوم جلالي چې د پښتو ادب له پاره کوم په زړه پورې کار کړی دی . هغه د پښتو ژبې،ادب،ليکلو آثارو،مشاهيرو،اوخارجي پښتو پوهانو په باب دادبياتو يو اجمالي تاريخ دي،چې پښتو ادب له لرغونی زمانې څخه تر معاصرې دورې پورې معرفي کوي . دادبياتو دغه لنډکی تاريخ په آريانا دايرة المعارف (۱۰) او افغانستان (۱۱) نومې کتاب کې چاپ شوی دی .

دو يلوو ړده . چې ددغه ادبي تاريخ په تدوين کې د لوی استاد پوهاند حبيبي او پوهاند رښتين له آثارو او کتابو ز يا ته استفاده شوې. ځينی مواد زموږ ليکوال دخپلو نورو مطالعاتو او څيړنو په مرسته پرزيات کړي دي . خوهغه تيروتنې چې په مأخذ وکې راغلې په دغه اثر کې هم تکرار شوي دي ،ځينې داسې خبرې هم پکې شته چې د پښتو دادبي تاريخ د نويو څيړنو په رڼا کې تکميل ته اړه لري او يوجامع اثر وورته نشوويلای ، کوم توضيحات چې په ځينو برخو کې ده ورکړي هغه هم تأمل وړدي .

له دې سربيره استاد په پښتو مجله کې (۱۲) «د پښتو ادبياتو لوړوالی» ترسرليک لاندې . او د کابل مجلې په ۸ گڼو کې يې (د پښتو ادبياتو او دعربو دادبياتو د مقايسې په ډول ) مقالې کښلې دي. له دې سربيره مرحوم جلالي د پښتو دادبياتو او د پښتو د ادبي مشاهيرو په باب ځينې متفرقې مقالې هم لري . چې دهيواد په مطبوعاتو کې خپرې شوې او دتولو اوړل موضوع او زدوي .

د پښتنی فولکلور تولو نکی ليکوال :

مرحوم جلالي دخپلو علمي او فرهنگي هڅو په لړ کې د پښتني فولکلور تولونې ته هم هڅه کړې ده. ده د پښتو ا ته سوه لس لنډۍ راغونډې کړې،او په يوه مجموعه کې يې خوندي کړې دي .

«د پښتو ځانتنی ادب او موسيقی »له دغې رسالې پرته .نوموړي د«پښتو ملی ادب اوموسيقی»ترعنوان لاندې يو بشپړ کتاب ليکلی چې

قلمي مخونه يې ۱۷۰ دي . فکر کيږي، چې دغو کتاب به ددغې رسالې ادامه او تکميل وي. ځکه چې د «پښتو ځانګړې ادب او موسيقي» د رسالې په پای کې يې کښلي دي، چې د ی به په دې خصوص کې خپلو هڅو ته دوام ورکوي .

## دعمومي ادبياتو او دنورو ژبو دادبياتو په باب څيړنې:

داستاد جلالي له کښنو څخه څرګنديږي، چې ده دخپلې مورنۍ ژبې (پښتو) له ادبه سربيره په پارسي او عربي ادبياتو کې هم پراخه مطالعه لرله . او دغرب او شرق دځينو نورو ژبو ادبيات يې هم لوستي وو . او دادب دهدف او غايې دعموميا تو په خصوص کې يې هم څيړنې او پلټنې کړې وي. دوی په دغو برخو کې ډيرې زياتې مقالې کښلي دي . رسالې او کتابونه يې ليکلي دي. چې زه دلې د دوی فقط ځينې کارونه يادوم ،او په دې خصوص کې يې د ټولو کارونو نه يادونه دجلا مقالې ايجاب کوي .

«مقام ادب و ادبا در زندگی بشر » دهغې رسالې نوم دي، چې استاد يې په ليکنه کې له زياتو منابعو څخه استفاده کړې . د شرقي او غربي ادب په باب بحثونه او زياتې بولګې يې- خصوصاً دوروستيو برخو- دغربي ادب دي. ددغې رسالې چاپ دکابل مجلې د ۳ کال په دريمه ګڼه (۱۳) کې پيل شوی، او دځلرم کال په لومړۍ ګڼه (۱٤) کې پای ته رسيدلی. او رساله په مسلسله توګه ددغې مجلې په ۹ ګڼو کې چاپ شوې ده . د «متون و تتبعات» په نامه ده دوه توکه داد بياتو تاريخ

ليکلي چې ۱۲۰۰ مخه‌لري ، او چاپ ته تيار دی. سر بېر ٥ پر دې يې دعمومی ادبياتو په باب له خارجی ژبو څخه ډيري مقالی ترجمه کړي دي چې دنمونی په‌توګه يې زه د«ادبيات فرانسه‌و اوضاع شرق» (۱٥) مقاله يادوم .

ژبنۍ او قاموسی ليکنې :

مرحوم جلالی دژبو په خصوص کی ځينی مقالی له خارجی منا بعو څخه ترجمه کړې، او دهيواد په ځينو خپرونو کی چاپ شوې دي لکه «لغات و زبانهاي عالم» (۱٦) چې له مصري منابعو څخه ترجمه شوې او په پيل کی يې داستاد خپلی خيرنی هم و رسره ملی دي «آيندۀ زبان» ددوی بله‌مقاله‌ده، چې کابل مجلی (۱۷) خپره کړې ده . دغه دوې ليکنی ماصرف دمثال په‌توګه‌وښودې، که‌نورې يې هم پسی ښيم بحث اوږديږي.

استاد دقاموس جوړونی په باب هم کار کړی دی، انګليسی-پښتو پارسی قاموس يې جوړ کړی چې تراوسه لاچاپ نه دی .

د پښتو (۱٥٦۰) لغات يې هم راټول کړي ، چې دغه اثر هم تر اوسه دخپرونو ډګرته نه‌دی‌راوتی .

ډرامی اودی :

په ادبی آثاروکی دډرامی تاريخ ډيرلرغونی دی، چې ولی او ريښی يې زاړه يونان ته رسيږي . دمصرزمکه هم دډرامی دودی پخوانی مرکز دی ، او په نوره‌اروپا کی يې وروسته زياته پراختيا

مو ندلی ده په اسیایی هیوادو کی هم دغربی استعمار په راتگ او دغربی تمدن او فرهنگ داثراتو په‌ښکاریدو سره دغه فن په معاصره ښه ادبیاتوته لاره پیداکړه ،اوزموږ په ژبه کی هم قدیمه ډرامه د۱۹۱۶ع کال (عبرت) نومی ډرامه ده، چی قمرسرحدي کښلی (۱۸) او ورسته وروروزموږدژبی ادبیاتودغه فن ته په خپله ځیز کی ځای ورکړی دی. مرحوم جلالی په خپله مورنی ژبه ډرامی نه دي لیکلی، بلکه په پارسی ژبه دوې ډرامی ترې پاتی دي، چی هغه هم منثورې نه ،بلکه منظومی دي،اوزه دغه دواړي ډرامی لږلږ معرفی کوم :

(۱) (سرنوشت شاعر) : دغه منظومه ډرامه چی په‌خوزه مثنوي نظم شوې،۳٤مخه ده،اود۱۳۳۲ش کال په جوزاکی دغزنی‌دسنایی په مطبعه کی چاپ شوې ،اومرحوم استاد ددغی منظومی په پیل کی د(گویااعتمادي) یوه څلور مخیزه منثور مقدمه هم چاپ شوې،او ددغی مقدمی یوځای یی کښلی دي :«...شاعرحقیقی همیشه ذکر گذشته رابرفکرآینده مقدم میدارد ولحظهٔ مراجعه به سوابق دقایق روحی خودرا برنوید یك رتبهٔ سعادت بخش ترجیح میدهد . وبالاخره برروی همین اصل است ، که سرنوشت شاعرهمواره تیره مانده وازحیث حیات مادی هرگزاوراسعادتمند نخواهید دید. تاثریکه شعرای غرب را ازدیدن‌اطلال وانقاض به یادمعشوقه‌دست میدهداشکهای‌سوزانیکه‌ازچشم(لامارتین) درکناردریاچهٔ(لوبورژو)

میریز درقت ونالهٔ سوزانیکه در دل شب ها از اعماق قلب (الفردوموسه) برخاسته و بالاخره خاطره های حـزن اورشاتوبریان در (رنه) و و (اتالا) و ناله های فردوسی به یاد جوانی و زار ناله گیهای مسعود ـ سلمان از برای آزادی ،سوزوگداز دقیقی بلخی و فیضی دراگره .نیز مولودتذکرهمان احساسات وحالاتی است، که شاعر راهمیشه در تحت تأثیرات شدید نگهدارد .

پس منظومهٔ سرنوشت شاعر آقای (جلالی) نیز باهمین احساسات توام است، البته لطف و تازگی این اشعار نیز مربوط به همین خاصیت است که شاعر آنچه احساس کرده بزبان آورده است» (۱۹) .

(۲) عشق وجستجو : داداستاد بلـه منظومه درامه ده .چی پر دوتنه یی کښل شوي دي :

(درامهٔ است منظوم به چهار پرده که ایدال گزیدهٔ رادنبال میکند) دغه درامه په خوږه مثنوي نظم شوې ، او په ۱۳۳۳ ش کال دغزنی دسنایی په مطبعه چاپ شوې ده. ددې درامی په پیل کی استاد۷مخه مقدمه د (چند سخن گفتی) ترسرلیك لاندي هم کښلی ده . او ددرامی متن ۳۲ مخه دی . استاد د خپلی مقدمی په شروع کی کښلی دي : «عشق وجستجو اثر کوچکی ومنظومی است کـه درآن بـه نظم روان اما خیلی گیرنده وبلیغ یك ایدال مهم عشقی وتصوفی به شیوهٔ پر لطفی تمثیل داده میشود ـاین درامه بایك مقدمهٔ شیوامنظوم درچهار پرده نگاشته آمـده وازعنوان مدحش وشورانگیز عشق پـاك بحث میکند»

دمنظومی مقدمی پیل یی په دې بیتو نو شوی دی :

به یاد جوانی و عهد بهار بسوز و گدازد اغدار
او یسم یکی دفتر بوالعجب زعشق و حقیقت زد ردو طلب
چی پرسی ز من معنی عشق چیست حل این معما به عاشق جلیست
نگویم چو آتش که سوزنده است نوازنده و یا گدازنده است
اگر علم گیتی به دفتر کنم همه حاصل علم از بر کنم
پس معنی عشق املا شود محالست گر عشق معنا شود (۲۰)

لرغونی متون اومرحوم جلالی :

استاد جلالی دخپلو نورو علمی اوفرهنگی هڅو ترڅنګه دپارسی ادبیاتو دځینو لرغونو متونو دتصحیح اوخپرولو هڅه کړې ده. دوی په ۱۳۳۲ش کال د«مجموعهٔ چهار کتاب نایاب» په نامه د پارسی ادبیاتو دڅلورو کتابو : عشقنامه، عقلنامه ، بهرام و بهروز او کارنامهٔ بلخ څلور مثنوی ، تصحیح او تحشیه کړی ، اومقدمه یی هم پر لیکلی ده. او دغزنی دسنایی په مطبعه کی یی خپری کړي دي . استاد دغه څلور سره کتابونه دسنایی غزنوي (۵۴۵هـ ق مړ) بللی نو ځکه یی ددغو کتابو دمجموعی په مقدمه کی سنایی پر ژوند آثارو ، معاصرینو اونورو دې ته ورته موضوعاتو بحث کړي دی .

اود کتاب په پیل کی یی ۷۷ مخه په دې باب کښلی دي. سربیره پر دې پردغه مجموعه، دنظر محمد شا لیزي علی احمد شالیزي، فضلی غزنوي اوعبدالاحد عشرتی یادښتو نه هم چاپ شوي

دي . تر دغو مقدمو او یادښتو وروسته لومړی «عشقنامه» راغلی ده دغی مثنوی دمجموعی ۲٤ مخه نیولی دي، بیا «عقلنامه» راغلی ده دغی مثنوی دمجموعی ۲٤ مخه نیولی دی وروسته د «بهرام و بهروز» مثنوي چاپ شوې ، دغی مثنوي دمجموعی ۳۸ مخه نیولی دي بیاد «کار نامهٔ بلخ» مثنوي راغلی ،چی دمجموعی په (۱۸) مخونو کی چاپ ده :

دغه څلورسره رسالی دسنایی په نامه چاپ شوي دی مگر دپارسی ادبیاتو محققین د «بهرام و بهروز» مثنوی دسنایی په آثارو کی نه شمیری. دتهران پوهنتون استاد مدرس رضوی، دسنایی ددیوان دنوی چاپ په مقدمه کی د سنایی غزنوی په آثارو کی دبهرام و بهروز مثنوی نه ده شمیرلی خو عقلنامه ۲٤۲ بیته ، عشقنامه ۵۷٦ بیته او مثنوی کار نامهٔ بلخ ٤۹۱ بیته یی د حکیم په آثارو کی کښلی دی(۲۱) دسبك پیژندنی داصولو له مخی هم د «بهرام و بهروز» دمثنوی ژبه د سنایی دعصر ژبه نه بلکه وروستی ده او دادبی تاریخ محققان یی د وروستی دزمانی بولی. سعید نفیسی په دې باب لیکلی دي «یك مثنوی دیگر بنام بهرام و بهروز رانیز به وی (سنایی) نسبت داده اند ، اما انچه بنام سنایی انتشار دارد قسمتیست از مثنوی بهرام و بهروز یا باغ ارم از کمال الدین شیر علی هروي، شاعر قرن نهم که نخست حالی تخلص میکرده است، وبه مناسبت شباهت تخلص وی یا تخلص سنایی بسنایی منسوب شده است» (۲۲)

له موضوع سره په ارتباط باید ووایم سره له دې چې استادجلالي کوم پښتو لرغوني متن چاپ ته نه دی برابر کړی. خو دقدیمو پښتو متونو له ټولو لوسره یې علاقه درلوده. ده ته په لاس ته راغلو پښتو قدیمو متنو کې یو معتنم اثر درحمت داوی دلیلی ومجنون (۱۲۱۰ ه ق تألیف) متن دی، چې نسخه یې هم دنفاست اوهنري ارزښت له پلوه قیمتي ده، اوهم دمتن له پلوه تراوسه چیری بل ځای د رحمت داوی دلیلی ومجنون څرك نه‌دی ایستل‌شوی، او دغه یې یواریني لاس‌ته‌راغلی نسخه‌ده، چې استادجلالي په کندهارکې پیدا کړې (۲۳) او بیایې پښتو ټولنې ته ورکړې‌وه. مخطوطه دخپل هنري او ادبي ارزښت له مخې سږ کال دافغانستان دعلوموداکاډیمۍ د ژبو اوادبیاتو دعلمي او تحقیقي مرکزدپښتو ټولنې له خوا په افسیټي توګه چاپ شوه، چې دښاغلو نژدې او هاندسریزې اوڅرګندوني هم ورسره ملې دي. البته ددغه کتاب په موند نه او پرپښتو ټولنه باندې دلوروني په برخه کې دمرحوم جلالي نیت د یادوني اومننې وړدی.

آریانا دایرة المعارف، او مرحوم جلالي:

ده دآریانادایرة المعارف دپښتو او پارسي برخو دغړی اومشر په توګه کارکړی دی. د ماموریت په دوره کې د وی نه یوازې داچې ددایرة المعارف دچارو په تنظیم کې دوظیفوي مکلفیت له مخې برخه اخیستې، بلکه ددغه دایرة المعارف د پښتو او پارسي

ایله یشنو نو دلو مړی نیمایی ټوکونو په لیکنه کی یی و نه‌دیادولو وړده ، او هغه کارونه چی دوی په د ې خصوص کی کړي د لته د یادونی وړدي :

(۱) پښتو آریانادایرة المعارف : ددغی سلسلی دلو مړي،دوهم او دریم ټوك په لیکلو کی یی ستره برخه اخیستی‌ده،او په‌دغو دریواړوټوکونوکی ډیره برخه ده لیکلی ده . که چیرې موږ هغه ټول عناوین‌چی دوی په‌دغو ټوکونو کی‌لیکلی دلته راوړوموضوع ډیره اوږدیږي .

(۲) آریانادایرة المعارف ( پارسی ایډیش ) : دآریانادایرة‌-المعارف ددغی سلسلی په لاندې ټوکونو کی ځینی موادلیکلی‌دي چی زه یی نومونه دلی راوړم :

الف: دلو مړي ټوك له پاره:«آهنگران،اباشهید خیل،ابدالی‌-ها،ابراهیم خیل لودي ،ابراهیم زایی »

ب : ددوهم ټوك له پاره : « اتهک،اتمان خیل ، ا تمان زي اتمان زی وزیري،اتووال،احمد خیل،ادوزایی »

ج : ددریم ټوك له پاره:«اسحاق زي،اسماعیل خیل،افریدي افغان ملتانی،اکاخیل،اوریاخیل»

مرحوم‌جلالی اوترجمی:

استادجلالی له خپلی مورنی ژبی ( پښتو ) سربیره په پارسي او عربی ژبو کی دلوی لاس‌خاوندؤاو له انگریزي ژبی څخه یی

هم د استفادې صلاحيت درلود، په همدې اساس دوی له عربي او انگريزي ژبو څخه پارسي ته او قسماً له پارسي، عربي او انگريزي ژبو څخه پښتو ته ډيرې ترجمې کړي دي. په دې لړ کې دوی نه يوازي کتابونه او رسالې ترجمه کړې، بلکه په لس گونو مقالې يې هم ترجمه کړي، او د هيوادمطبوعاتو خپرې کړي دي. د دوی له خوا ځينې ترجمه شوي آثار مادمخه ياد کړل. کوم اثر چې په دې برخه کې يادوم. هغه «علم اقتصاد» نوميږي چې د فرانسيس ميخائيل تأليف دي، او ده په پارسي ژبه ترجمه کړي. او په ۱۰۱ مخونو کې په ۱۳۱۲ش کال پنځه سوه ټوکه په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی.

مرحوم جلالي د ورځپاڼه ليکوونکي په توگه :

په ۱۳۳۱ش کال د غزني په مرکز کې د سنايي جريدې (اوس ورځپاڼه) په خپرونو پيل وکړ(۲۴). دغې جريدې د هماغه وخت د دولت د پاليسيو په رڼا کې د داخلي او خارجي خبرونو تر څنگه ځينې نور اجتماعي، ديني، ادبي او کلتوري مطالب هم خپرول. مرحوم جلالي د ړ کاله د دې اخبار د چلوونکي په توگه کار وکړ. په اخبار کې د نورو اجتماعي، ديني تاريخي، کلتوري او تبليغي مقالو د خپرونو تر څنگه ده په همدې موده کې درې رسالې او کتابونه هم له دغې ادارې خپاره کړل.

مادمرکز په کتابخانو کې د سنايي د هماغه وخت گڼې نه کرې پيدا، چې د هغو له مخې مې دا ښودلی وای، چې يوعنعنوي ورځپاڼه

لیکو نکی څنګه کولای شی دژ و ر نالیزم دمعاصر و اصو لو او ر وشو نو سر ه سم او دجمعی مفاهمی دو سا یلو دو ظا یفو : «خبرو ر کو ل ، تعلیم و ر کو ل ، ر و ح ور کو ل ، بو ختو ل» له پلو ه یو ه جر یده یا و ر څپا نه و چلو ي.

په هر صو ر ت استاد د خپل علمی ز یار په دو ر ه کی دغه کار هم کړ ی دی.

## د مر حو م جلالی فلسفی لیکنی :

استاد غلام جیلانی جلالی په تحصیلی دو ر ه ، او ر ا و ر و سته دعر بی ادبیاتو له لیاری دشر ق او قسماً دغر ب دفلسفی افکار و مطالعه در لو ده او دخپل علمی ز یار او ها ند په ز ما نه کی یی دا هڅه کړ ې ده چی دشر قی او غر بی فاسفی افکار و ځینی بر خی د کښنو او تر جمو له لیار ي خپلو هیو ادو الو ته و ر سو ي. دو ی په دې بر خه کی ډیر ې مقالی کښلی دي چی د ټولو ر ا وړ ل به مو ضو ع او ږ ده کړ ي. ز ه فقط دده د دغه ډول آثار و څخه د یو ې تر جمی او یو ې کښنی یادو نه کو م :

(۱) فلسفهٔ ابن سینا : چی د یو ې ر سالی په بڼه یی کښلی ، لو مړ ی ځل د کا بل مجلی په یو ه خاصه ګڼه کی چاپ شو ې (۵۰) «مقام ابن سینا درعلوم »دده یو ه اوږ د ه مقاله ده چی په ۱۳۵۹ ش کال دا بو علی سینا (۳۷۰ - ۴۲۸ هـ ق) دزیږ یدنی دزر م تلین په منا سبت په ګستتنر ي بڼه د کا بل پو هنتو ن له خو ا دیو ې مجمو عی په تر خ کی چا پ شو ي (۵۱) دغه مقاله دفلسفی افکار و له پلو ه هم ار ز ښت او اهمیت لر ي.

(۲) فلسفه تار یخ : دغه مقاله استا د جلالی له مصر ي منا بعو څخه تر جمه کړ ې ، او په کا بل مجله کی چاپ شو ې ده (۵۲) .

PROP ACKU

## داستاد جلالی متفرقی لیکنې :

کله چې موږ له ۱۳۰۰ش وروسته په عمومي توګه دخپل ادب او ادبي آثارو جاج اخلو. نو دا راته ښکاریږي چې زموږ ددې زمانې د زیاترو لیکوالو لیکنې دکوم اختصاص تابع نه دي. ددې مثال هر لیکوال: شاعر، ادیب، قصه نویس، درامه نګار، ناول نویس، اقتصاد پوه، سیاس، ژبپوه، باستانشناس، ټولنپوه، وګړ پوه، عرو ضپوه ادبپوه، داسلامي علومو پوه، کلتور پوه او هرڅه دی. ددغې دورې دټولو لیکوالو په آثارو کې دغسې ګډوډ لیکونه مینده کیږي. داچې هغه لیکونه اوس څومره زموږ په درد خوري! بیله خبره ده. خو بیا هم ددغو ښاغلو لیکوالو هڅه په دې خصوص کې مشکوره ده. ځکه دوی زیار ایستلی چې مختلف مضامین په دې ژبه وکاږي، زموږ مرحوم استاد غلام جیلاني جلالي هم ددغو شرایطو تابع ؤ. نو یې له خپلو نورو معاصرو لیکوالو سره په سیالۍ هرې خوا ته لاس اچولی دی.

او دعلومو او فنونو په مختلفو څانګو کې یې قلم چلولی دی. ددوی دغه ډول متفرقې لیکنې ډیرې دي، چې زه یې څو لیکنې او ترجمې دلې یادوم:

(۱) د کابل مجلې دځلورم کال په ۶ ګڼه (۲۲ ـ ۲۵) مخونو کې د «ازدواج در کدام سن» مقاله.ا

(۲) د کابل مجلې دپنځم کال په ۱ ګڼه ( ۳۲ ـ ۳۷) مخونو کې د «ذوق در کار باعث کامیابی است» مقاله.

(۳) دکابل مجلې دپنځم کال په ۲ گڼه (۸ - ۱۳) مخونو کې د «میتوان سعادت را سراغ کرد» مقاله .

(٤) دعلم صوت رساله : چې دکابل مجلې په بیلابیلو گڼو کې په تفاریقو چاپ شوې ده .

(٥) نظام منزل: دغه کتاب استادترجمه کړی او چاپ شوی دی چې داستاد دخپل یادداښت له مخې طباعتی تیروتنې ډیرې لري لـه دغو لیکنو سربیره استاد جلالی، په طلوع افغان، سنایي، کابل- مجله، پښتو مجله او دهیواد په نورو خپرونو کې دومره متفرقې لیکنې کړي . چې یا دول یې دیوې ځانته رسالې دکښلو ایجاب کوي .

استاد جلالی د ادیب او شاعر په توگه :

استاد غلام جیلانی جلالی مرحوم، په پښتو او پارسي دواړو ژبو کې دتحقیقی او علمی آثارو دکښلو ترڅنگه نظم او ادبي نثرهم لیکلی دی .

دده شاعري دشکل په لحاظ زړه او دشرقي ادب دمعمولو فورمونو تابع ده . مگر دمضمون له پلوه ډیره غنې ده . مینې او محبت دمسایلو دبیان ترڅنگه فلسفي او حتی ځینې علمی افکارهـم دشعر په ژبه بیانوي او کله کله داجتماعي، ملي او تاریخي موضوعونو دبیان خواته هم هڅه کوي . ده پرپښتو او پارسي نظمونو سربیره په پښتو ژبه ادبي نثرونه هم کښلي چې ځینې دغه ډول ادبي لیکونه

یی چاپ شوي هم دي (۲۷) .

داستاد جلالی په ځینو شعرونو کی پښتو، پښتنواله او دپښتون دژوندانه رموز دشعر په عنعنوی کالبونو کی بیان شوي ددغه ډول یوه پارکی دوه بنده یی دنمونی په ډول وا ولئ !

موز یلك پـه ملی ژبـه ماتـه زغـیـږي
ډولـونـه دنـګیږي پنځګـونـه ټولـیـږي
دري رنګه جنډه کـی پښتو ن ورځلیږي
در ستـه د مـړانـی مـړولـه رغـیـږ ي
نـا مـر د دئ هغه چې بی ننګه غـږ یږي
پـر ونـی تـه وړدي، چې نـن ورځ پتېږي
تخت او تـو پـل هیوادګـر ان دی رښتیا
لـو ړ لـو ړ درشل مـهـر بـان دی پـر مـا

هغه یـم پښتون چې پـه سره اورګډیږي
ها لـتـه چې تـوپ لـکه تـالند غـړمبیږي
پـه لـز نـده مځکه لمبی پـورتـه کـیـږي
په خـړسکو کی پټ یم مردك مـی لـګیږي
چـې منده پـرمـخ کـړم صـفـو نـه ماتیږي
بـوړی می په لاس کی ډیـرژر ژر چلیږي
کـه کـرانـګی داورطیا ري پـرهـوا
یا بم شرفنل، توري کاندي بر یښنا (۲۷)

استاد جلالی دخپل ادبی زیار او هڅې په نتیجه کی دپښتو او دري ژبو غټ دیوانونه ترتیب کړی دي . دغه، دیوانونه داشعارو بیلابیل ډولونه لري، چې زه یې دواړه مجموعی لاندې درښیم :

(۱) دپښتو اشعارو دیوان : دغه دیوان قصیدې، غزلی، مثنوې او نور شعری انواع لري . دبیتو نوشمیر یې پنځوزرو ته رسیږي چې ځینی پارچې یې دهیواد په مطبوعاتو کی خپري شوې دي .

(۲) دپارسی اشعارو دیوان : په دغه دیوان کی زیاته برخه دقصیدو ده . نور شعر و نه هم پکی شته استاد دغه دیوان د «خزان ـ غزنه، بهار کابل، باختر» په برخو ویشلی دي . ددغه دیوان ځینی منظومی هم په متفرق ډول د هیواد مطبوعاتو خپرې کړې دي لاندې داستاد، د پښتو او پارسی شعرو نودوې نمونې ولولئ !

(۱) د پښتو شعر نمونه :

## شرق

یو سحر چې فکر سیر ته شایق ؤ
کنبده په شفق لوري د مشرق ؤ
لمر په څوکو څرك لانه ؤ راوهلی
چې شغلو په رنګ، رنګین کړ کوروکلی
پسرلی دی‌و نی‌شنی‌غوټی‌غوړیږي
بوراګان په‌اوردسرو ګلو کړیږي

د بهارنسیم په اوري د چمن شو
جوړ په باغ کی د بلبلوانجمن شو
لکه زړه د سخی ارته و ر شو شوه
د خـیبر له څو کـی سـتـرګـه په ختوشوه
اند یښنواخر په دې فکرفایق کړم
چی د زړه په ستر ګوسیرد مشرق کړم
ګورم هغی پخوانی مطلع د لمرته
چین وقدس ومصروهند ا یران باخترته
نه بانی د چین دلوړدیوال شته بل
نه د هند تکسیل په ځای دی نه بابل
نه د بلخ زراسپ لیدای شی په وطن کی
نه صبانه‌ملکه شته په یمن کی
نه هر شی پولیس کاته شی بی له نامه
نه په مصر کی څه ښکاري بی اهرامه
نه کم اور د نینو اشته په عراق کی
چی خلیل ځنی پید اشی په افاق کی
نه د بلخ له مانده بل کاروان پریوزي
نه د بست له طاقه بیاسپاره جاروزي
ګـهواره دانـبـیا ووفلسطـین
لا پـه د یـر کـی د یحیـی وهـی جـبـین

نه موسی نه یی هیبت پاته په شرق کی
چی مغرورماد ي فرعون په نیل کی غرق کی
نه عیسی د شرق نبی شته په خپل حال
چی که ویش له بحرروړمه ترا ورال
شرق د ټول جهان محور نه ؤ نوڅه ؤ
چی هر دود یی هم د غرب ترهر دود ښه ؤ
نه میدیان شته، نه اشکان نه باختریان شته
نه د پارس پا ته مزه نه فینقیان شته
مغربیان د مراکش که هرڅو د یرشی
انیبال کم دی چی بیاله الپه تیرشی
نه چندراګپتا، اشوك نه کانشکا شته
نه دوه لوړ فیلسوفان زرد شت بو داشته
لوړ آثار د شرق شو ټول ترخاورولاندې
په هرلوري شوې د غم کتوې باندې
چی رومیان دد ې خوزې نمړی په شخوند شو
لمر د حق بیرته په شرق باندې ځرګند شو
د وباره مشرق په هغه لمر رڼا شو
چی د طورله څوکی پریووت بطحاشو
له یثرب په تحلید ود روح منظر
حقیقت د حق ځرګند شو په خاور

مد ینه جا مع د وحی معـرفت شـوه
روحانی خو نه د فیض اودرحمت شوه
ولـی ولاړ د حـق و لـورتـه هـغـه ذا ت
چی شمار نه شی په قلم د د وی صفات
پس له خو مودې تقد یرؤ د بنه خدا ی
دا خوت خو نـه و یجـاړه شـوه هرځـای
نتیجه یـی تباهی نفاق د شرق شو
مسلمان له بر مه پر یوت ویر کی غرق شو
نه بو بکـر شتـه چـی مـخ کـا زنگبـار تـه
نه عمر شته چی فر مان و کړي تا تار ته
نه له شامه لښکرد رومی و بر بر ته
قتیبه نـه روانیـزي و کـاشغـرتـه
نـه موسی شته چې ملك فتح کا تر سپینه
نه د نیلو کار وان در و می تر کسپـیـنـه
نه پـه مصر کی یو بل مغز ښکار یـږي
نـه دشام له سیمی بل یو ولید زیـږي
نه هارون نه یـی دربار هغه هیو اد کی
نـه مامون هنر پرو رشته پـه بغداد کی
لـه موصله نورالدین نـه پیدا کـیـږي
ایو بـی صلاح الـدیـن بیا کله زیـږي

نـه دشام مطلب په ځای نـه خلیفه شته
نه په شرق کی دبغداد بیت الحکمه شته
نـه دمصر صیدلـی نـه مکـتـبی شتـه
نـه هغه شان وشوکـت دقـرطبی شتـه
الحمـراد غـرنـاطی لـه ویـره ژاړي
زمـانـه یـی لاتـر اوسه سره نـغاړي
نـه سامان دباختر پاتـه نـه سامان دی
نـه دتـر کـو محمد فـاتـح سلطان دی
هغی مورلـره چې خپل لـړمون بلاشی
نـا بـغـه زوی یـی چنگیزیـا اتیلاشـی
هم چنگیزهم هلاکو په دې هیوادوو
ولی څـه شی چې کاسیراو بـدنـهادوو
دمشرق پـه سیر کی خـوارخسته بیمارشوم
وخپل ځان ته می نظرکو ، رابیدار شوم

دپښتو شعرپه باب یـی دغه خبره دیادونی وړده، چې پـه اکثرو نظمونو کی یـی هنری ښکلااو شعریت خویو څه شته، مگر دکره کتونکو دځواب له پاره څه نه پکی لیدل کیږي .

(۲) دپارسی شعر نمونه :

داستاد جلالی په پارسی اشعاروکی دده قصیدې په خاصه توگه ځینی داسی خصوصیات اوادبی مهارتـونـه لـري، چې سړي تـه دغـزنی دتیربرم اوپه دربار کی دشاعـرانودقصیده سرایـی محافل

اولرغونی مراحل رایادوي .

دلوی استادپوهاند عبدالحی حبیبی په قول : دمرحوم غلام جیلانی جلالی په قصیدوکی ځینی داسی قصیدې شته، چې دخپل ادبی قوت اوشاعرانه فن تازیوله پلوه . دفرخی (۴۲۹ ه ق م) دقصیدو په پیروی ویل شوېدي . نوماهم دده دپارسی شعرپه نمونه کی ددوی یوه قصیده اویو «مسمط» چې د ۱۳۰۱ ش کال دسرطان دمیاشتی په ۱۴ نیټه دغزنی په ښار کی دامانی حکومت دیوه لوړرتبه هیأت په هرکلی کی دترانې په بڼه اوستل شوي (۲۸) ددې مقالی گرانو لوستونکوته وړاندې کړل . دغه مسمط دهیئت دعلم په استعارو کی نغښتی ویل شوي . خو دشاعرطمع دومره روانه اوشعري مهارت یې دومره لوړدی، چې دعلم هیئت مشکلو اصطلاحاتو هم دمسمط شعریت ته زیان نه دی رسولی، او خپل خاص ادبی قوت لري .

دادی داستادمسمط :

## مسمط باستعارهٔ علم هیئت

دوره بسادس سپرد مرحمت کردگار

خور زبره رخ بشور برد سپاه بهار

چرخ به جوزا کشید رونق لیل و نهار

کردکف مشتري لؤلؤ ولالا نثار

رقعه بنام امان داد امانی نگار

ای شه غازی لقب خسرو افغان نسب
کوکب این دایره ملتمست روز و شب
باش به مرکز مقیم زانکه تویی ظل رب
دوش سروشی زغیب گفت چنین زیر لب
روی زمین دیده‌ام نیست چو تو شهریار

قطر زمین دایره بساز به کلك حساب
ضرب نما عرض وطول تا که شوی کامیاب
هفت خط وچار حد پنج شمر در طناب
تاج ز داراستان باج ز افراسیاب
رخش ز رستم بگیر تیغ ز اسفندیار

مادر گیتی نزاد همچو تو فرزند نر
باغ جنان ناورد چو نتو نهال ثمر
نی زعناصر چنین نی زحواس عشر
نسخه ز ترکیب تو نیست به جز ازهنر
کره به چوگان توست گر زهر شش چهار

تا که توانی نگشت گردش گردون شمس
تا که عدد محتوی است هیئت الیوم و امس
تا که جهان روشن است برسنن وچار وخمس
تا که بشر میتوان کردزشی درك لمس
خصم تو مقهور باد سلطنتت برقرار

تـا که خرا مد شمیس از سمکی تـا سمـاك
تـا که بـه دور شمیس گـر دد همین کـر ه خا ك
تـا که زصرصر نه شد چرخ بـر بن چاك چاك
تـا که زدانش نـه گشت دفـتر تکلیف پا ك
تخت تـو ما مون بـاد بخت تـو هم پـایدار
تـا که ثـو ابت کند دو ره به میـدان چـرخ
تـا که سیاره چمد راست بـایـوا ن چـر خ
از حد کشمیرو چین تایو رپ زنگ و کـرخ
بـاج ستان خواهمت از صفها ن تـا سطرخ
تـاج ر باگو یمت صف شکن کار زار
عشر بجد و ل گـر فت گشت مؤ ظف ر قـم
کار گـذ ار فـهـیم میـر عـطـار د قـلـم
صفحهٔ دیـو ا ن او جا مـع جـمـع عجـم
شیشهٔ اسکـنـدر است بـاقـدح جام جم
هست مشیرو چنین زیب چنان شهر یـار
ای ملـک امیـر راداد ر یـاعـدل و دیــن
فـاقـد دار العیار یس سـخـنـم سـ همسگـین
از مدد بـخت تـو نیست چـو مـن در زمین
مـد ح تـو مذ می شمر در شتـهٔ حبل المـتین
سکه وصفت زدم بر ـمحک روز گـار

داستاد جلا لی دپارسی شعر ددوهمی نمونې یه تو گه به ددهیوه قصیده‌چی «خزان غزنه» نو میږ یو ړاندی کړم . پهدی قصیده کی شاعر دغز نی دلرغونی او تاریخی ښار ، زوړ او تیر برم ، شوکت ، او دبد به پهښه ادبی پیرایه کی بیان کړی ده.

## خزان غزنه

ز پیچ و تاب قرون در شکنج لیل و نهار
جهان نهفته معماست از خزان و بهار
چمن بصحنهٔ خاموش و ساده می ماند
که پرده هاش نماید فسانه هااظهار
چه نکته ها که نگنجید در خیال ادیب
چه رازهاکه ندانست زان صحیفه نگار
فلك بجز ر اصم میتوان کنم تشبیه
که از کری نه نیوشد چوگل فغان هزار
عجب زخواب گرانجان خفتگان دارم
که ازفغان هزاران نشد کسی بیدار
نصیبماست مگرهیچ زین مرای شه پنج
که دیده غرق تماشاست وغافل از اسرار
جهان شناس همی خواند ازصحیفهٔ دهر
که نوش همرهٔ نیش است وگل قرینهٔ خار

درین دو هفته که عقرب گزید گلبن سبز
سحر فتاد مرا بر خزان غزنه گذار
بدور روضهٔ محمود زابلی دیدم
بسان چتر شهی طرفه لاله گون اشجار
هزار گلبن پاکیزه از تلون رنگ
ستاده اند چومرغان آتشین منقار
نسیم صبح زاوراق رنگ رنگ خزان
کند نثار زرسرخ بر در و دیوار
جهان رنگ بود بوالعجب کنار چمن
تمام روضهٔ محمود تابه پای منار
صبا برنگ نواز برگ لعل فام نمود
بدور قبهٔ فیروزه پردهٔ گلنار
روا بود که همان شیر زرم فیروزی
کند بصحنهٔ فیروزه بعد مرگ قرار
کنار روضه بسان یلان جوشن پوش
ستاده سر بفلک یکقلم قطار چنار
زبسکه برگ فروریخت روی آب روان
برنگ شوشهٔ زرموج می زند انهار
نموده دیبهٔ زرین ببر زبرگ شجر
مزار چل بچگان تا بخواجهٔ باغار

زحد شیخ اجل تامزارشیخ رضی
چمن‌نموده باآغوش برگ رنگ بهار
بلاله زارزبس برگ لاله‌گون فرشست
خزان برنگ دگرجلب میکند انظار
شعاع فیض مزارات ونورمهرمنیر
ضیای لوحهٔ زرین صفحهٔ گلزار
زاختلاط عناصر کند بگاه غروب
فضای خطهٔ زابل کرانهٔ انوار
چنانکه لوح طبیعت خیالها دارد
بیك نظرنتوان یافت معنی دشوار
زخویش رستم ورفتم بسیرعالم‌دل
که‌برد دیدهٔ حیرت هزاررنگ زکار
بعرصهٔ که‌ندانم چسان نمود بمن
خزان غزنه زتاریخ باستان ادوار
کدام غزنه همان مرکز جهان‌کمال
همان سپهر معارف همان بهشت دیار
همان خزینهٔ علم‌وهنرعروس جهان
مدارثقل زمین تاج بخش وتاج گذار
همان حدیقهٔ دانش سرای فضل‌وادب
که زاد مثل سنائی بعصر قطب مدار

قرارگاه تمدن که در زمانه بداد
بهند و سند و بخارا و فارس زیب دیار

با سمان مقدس کند از و تعبیر
نقیب غزنه سنائی آتشین گفتار

یگانه کرمی افاق شهر با عظمت
که بر شدی بسما پر چمش خیال شعار

بروزگار فگندی چو اژدهای فلک
بگنج مشرق زمین طرح مار پیچ حصار

رمیده خوی بهامون بیکران رفتی
هژبر چرخ ز شیپور عسکرش بفرار

بیلک هجوم برانگیخت از سواحل گنگ
همی بسم ستوران و پای فیل غبار

مهین فضای تصوف جهان حکمت و عقل
به چرخ زهره کشیدی چرخ تطور افگار

خجسته جامع محمود نصر و مکتب آن
که بر عروس فلک شهره گشت در اقطار

کجا زیاد رود کاخ و باغ سلطانی
چنانکه چیده سنائی دران حدیقه ثمار

ز عسجدی و لبیبی و فرخی گویم
کنم بیاد سخن نام عنصری تکرار

با فتخار و طن شیخ طوس فردوسی
نمرود دفتر شاهنامه رادرین دربار

زمروزی و سجاوندی ورضی الدین
بسان شمس بپرورد درحدیقه ثمار

زکشك خاص همی تا دیار سر روضه
زخاك خیر همی تا کنار شاه مزار(۱)

تمام صحنه غزنین چون گلستان بود
رباط و مدرسه وخانقای پرابرار

طراز تخت جواهرنشان مسعودش
خراج کشورجم بود هند وسند و تتار

ولی بچشم زدن درگرفت سوخت نمود
بهارحسن وتجمل بخاك تیره و تار

ندانم ازچه نگون ساخت قصرهای بلند
بخاك تیره زگردون زمانه غدار

بجرم حسن فگندش مگرزاوج مهی
به پرتگاه عدم روزگارکجرفتار

سپند وارش بمجمر کشید سوخت بداد
سموم جهل زخاکسترش بباد نقار

---

(۱) شاه‌مزار: د غزنی دزاړه‌ښار په‌جنوب شرق کی دیوه کلی‌نوم دی.

خرابه هاش بفرسنگ هاشود تجدید
ولی قدم بقدم دیده برخورد عزار

فضای شهر کهن چون مزار خاموش است
ولی مهیب تر ازعرصه گاه روزشمار

شب ازمحیط خموشش رسید دو چیز بگوش
صدای بوم وهدیر کبوتران مزار

بحال زارتلطف کن ای فراموشی
که بازدل بهوای دیاررفت زکار

درین دیاریکی زنده دل نمی بینم
زبس بطبع کند باد خاك مرده نثار

نه عنصریست که نالد بیاد این مشهد
نه فرخی که سراید مراثی اشعار

کجاست رستهٔ جوهرفروشی غزنه
مگر به آتش یاقوت سوخت این بازار

بذکرشوکت اودل نمیشود تسکین
گذر بدرگه صندل کنم اگرصد بار

به آتشیکه جهانسوزد به پیکر آن
گداخت سوخت بهم ریخت برج بارحصار

ولی نرفت قناعت بان دوبارد گر
زدست حملهٔ چنگیزیان بشد مسمار

زمانه ازپی عبرت هنوز می ریزد
برنگ برگ خزان خشت پاره های منار

منارانکه بود یادگار فخر وظفر
زبس که دیده بمحنت سرای دهر فشار

حصار نیم خرابش زتیره بختی خود
به بخردان کند از حال ناتوان اخطار

شکسته دل ترازانم که کاسهٔ جانان
فرو به صفحهٔ خاراکند زدست قرار

طمع مدار علاج اندران چمن که بود
خزان طبیب وطبیعت علاج وکل بیمار

دغه قصیده دکابل مجلی د ۱۳۱۴ ش کال د ۷ گڼې په ۷۵-۷۷ مخونو کې چاپ شوې ده.

ماتر دې ځایه داستاد سوانح دده دآثارو، او ځینو لیکوالو د لیکنو او یادښتونو له مخې وکښلې . هیله لرم چې زما دغه نیمگړې هڅه به د استاد دعلمي او ادبي هڅو ځینې څنگو نه روښانه کړي . گوند ېوي چې په دغه لیکنه کې مو دده علمي مقام یو څه څرگند کړی وي.

## « ۲ »

## درسالی پیژندنه

له نن نه کابو دري ځلو ښت کاله دمخه د پښتو او پارسي ژبو حقدار او داحترام وړ لیکوال استاد جلالي راولاړشو ، او د پښتو په خوا ږه نثر (دهغه مهال له معیار و نو سره سم) يې زموږ دفولکلو ر دتا ندا وغو ړيدلي رنګين بڼ څخه د څو ښکلو ځانګو دمعرفي او پیژندنې له پاره یوه کوچنو تې رساله وليکله ، او د پښتو بل خوا خوږي او لوی عالم استا د حبيبي دطلوع افغان ـ ۱۳۱۷ ش کال په یوه کالنۍ مجموعه کې ور نشر کړه .

خو دا ستاد جلالي ددغې منثورې رسالې تر نشر یو کال وروسته زموږ بل مرحوم استاد قیام الدین خادم په کابل کالنۍ کې داستاد جلالي دنثر په باب و کښل : «که څه هم تر اوسه دده پښتو نثر زموږ تر نظر نه دی تیر شوی، مگر بیاهم د جلالي . . . صاحب پیژندنه . . .»(۳۰) ښايي استاد خادم ته به د پښتو نثر لیکوال درسالې دد وهم قسط دلیکلو تر مهال پورې داستاد جلالي دنثر نمو نه نه وه څر گنده . استاد جلالي د پښتو فولکلو ري ادبیاتو ددغې رسالې په پیل کې دادبیاتو او مو سيقي په باب ابتدايي خو په زړه پورې خبرې کړې دی، او ددې بحث تر څنګه د پښتو داولسي ادبیاتو او اولسي موسیقي په خصوص کې هم په عمومیاتو گړيدلی دی، او په پښتو کې يې ددغسې ادب او مو سیقي دموجو دیت په اصالت او نو روځانګړنو ښایسته ډیرې خبرې کړې، چې زموږ داولسي ادب او موسيقي په عمومي څر گندو نه کې يې پدل ډمنني او يادو نې وړ دی. داستاد جلالي

دځر ګندو نو تر څنګه ددې خبرې کول ضروري دي، چې زموږ دفولکلوري ادبیاتو او موسیقي دلرغونوالي په باب هم باید په دغه ځای کې څه وواېو :

(۱) دپښتو د فولکلوري ادبیاتو لرغونوالی : که چیرې موږ د خپلو فولکلوري ادبیاتو بیلابیلې څانګې او اصناف د مضمون او شکل له پلوه تر هر اړخیزې څیړنې لاندې و نیسو. نو دا به راته زباته شي، چې د دغو سندرو په ځینو انواعو کې دسندرې دشکل او له مضمون دواړو له پلوه ځینې داسې نښې او بولګې لري چې ددې سندرو زړوالی ډیر قدیم ثابتوي، او له زړو آریایي سندرو (ویدي ـ اوستایي) سره یې نښتون رابرسیره کوي. دپښتو د فولکلوري ادب څیړونکي ددغو سندرو دقدامت د تاکلو له پاره په سندرو کې دځینو خصوصیاتو او عواملو دڅیړنې خاصې میتودونه وضع کوي (۳۱)، چې دهغو په وسیله کیدای شي چې ددغو سندرو قدامت وټاکل شي. دیادونې وړده، چې زموږ دفولکلوري ادبیاتو دزیاترو سندرو فورمونه ډیر زاړه او له لرغونو آریایي سندرو سره اړیکه لري.

خو دژبې له پلوه تړولې نوې دي. ځکه دنوې پښتو قدامت د۱۴۰۰ کالو په شاوخوا کې اټکل کیدای شي. دمتوسطې پښتو سندرې زموږ په واک کې نشته، د مضمون له پلوه هم دا جتماعي ژوند له تحولاتو سره سم دې سندرو عظیم تحولات منلي دي، مضامین یې متنوع او رازراز شوي دي.

(۲) دپښتنو فولکلوري موسیقي : دغسې چې زموږ فولکلوري ادبیات لرغوني دي. دغه ډول زموږ فولکلوري موسیقي هم ډیرې لرغونې ریښې لري. د لرغونو اریایي متنو په استناد، د سیاحینو

دیا دښتو نو او دختیځ پو هانو د اوسنیو څیړنو له مخې داثابته شوې چې زموږ فولکلوري موسیقي کابو پنځه زره کلن تاریخ لري (۳۲).

زموږ داصیلي محلي موسیقي ځینې آلات ډیر لرغوني دي، او په مجموع کې ددغې موسیقۍ د خوږو نغمو ټولو جوړوونکو توکو نو خپل لرغوني اصالت ساتلی دی. کومه موسیقي چې په دغه رساله کې تر څیړنې لاندې نیول شوې، هغه موسیقي ده، چې ریښه یې په جامعه کې په ابتدایي شکل شروع کیږي او دخپلې ودې په جریان کې دعمومي یا هنري موزیک تر تأثیر لاندې نه واقع کیږي. دغه موسیقي دیوه فرد له خوا کمپوزیږي او بیا په ټولنه کې دیوې ټاکلې عنعنې په شان رواج مومي (۳۳).

استاد جلالي په پښتو فولکلوري ادب او موسیقي باندې له عمومیاتو او په پښتو کې ددوی په استقلال تر څه مفیدو بحثو نو وروسته دفولکلوري ادبیاتو ۱۸ ډوله ښوولي دي، چې دهغه وخت له شرایطو سره سم دغه یو ښه رقم دی. مګر داستاد دغه ټولې کړې، او په اتلسو ډولو ویشلې سندرې او سره موږ دفورم په لحاظ په لاندې ډولو ویشو :

(۱) لنډۍ : استاد جلالي لنډۍ دیوه ځانته فورم په توګه معرفي کړې. او ګټور بحث یې پر کړی، او دموضوع په لحاظ یې دارسطو له منطقي اشعار و سره تطبیق کړی، او ور پسې یې دعربو له ادبي ویش سره هم دلنډیو دموضوعي ویش دتطبیق موارد ورڅرګند کړي دي. او په هره برخه کې مثالونه هم راوړي او په دې توګه یې دپښتو (۶۱)

لنډۍ هم په دې بحث کې د نمو نو په ډول خوندي کړي دي .

دويلو وړ دي چې لنډۍ د پښتو په فولکلوري ادب کې يو ځانله فورم دی. چې د شکل له پلوه ډيري زړې دي او د پښتو د اولسي ادب د ځينو څېړونکو په قول يې شکلي زړوالی (۳۵۰۰) کالو ته رسيږي (۳٤) د موضوع په لحاظ هم دومره متنوع دي ، چې د پښتنې ژوند ټولې خواوې پکې په واقعي او طبيعي بڼه انځور شوي دي ، او سربېره د پښتنو داجتماعي ژوند دومره باريك موضوعات پکې پيدا کولای شي چې په نورو سندرو کې بيا په دې کم و کيف نه دي بيان شوي . د پښتو لنډيو په باب يې څومره څېړنې شوې ، او بيا هم وشي لږې دي . ځکه د دغو سندرو هره خوا د څېړنې او ګرو يږنې پراخ ميدان لري ، او هغه ارزښتو نه چې دغه سندرې يې بيانوي په اجتماعي څېړنو کې د شمېرې حيثيت لرلی شي . پښتو لنډۍ له ژوند سره په اړيکه کې دي ، او د پښتنو ټول ژوند بې غل و غشه ترسيموي ، د تصنع اثرات پکې نشته .

(۲) د بنادی بدلی :

استاد غلام جيلاني جلالي په دې رساله کې په (۲) نومره :

سندرې يا د پښتو ادب موزوني ټکې ، په (۷) نومره : د خرڅبانيو بدلي . په (۸) نومره : د پليو وراباڼيو بدلي ؛ په (۹) نومره : د سپرو وراباڼيو بدلي . په (۱۵) نومره : د ناوې را ايستلو بدلي . په (۱٦) نومره : د ناوې د سپرولو بدلي معرفي کړې ، او په هره برخه کې يې نموني هم راوړي دي . د دغو سندرو هره څانګه د جلا صنف په توګه

نه‌معرفی کیږي . بلکه‌دپښتني فولکلورخیړونکی دغه‌ټولی سندرې په‌یوه‌صنف کی مطالعه کوي . اوټولی د«ښادی بدلی» بولی (۳۵) دغه بدلی دښادیو په مختلفو مراسمو کی له‌وخت او محل سره سمی ویل کیږی . په‌دغو سندرو کی دپښتني کلتور اود پښتنو دبیلا بیلو سیمو دواده دودونه، او ددغو دودونو مثبت او منفی ارزښتونه او نور اجتماعی مسایل بیان‌شوي دي. دغه سندرې د پښتني کلتور په معرفی اوپیژندنه‌کی ارزښتمنی دي .

(۳) داتڼ نارې :

استاد جلالی په (۳) نومره : دگډاتڼ نارې . په (٤) نومره : دوروا تڼ یاداتڼ دشروع نارې. په(٥) نومره:دغښتلی اوباترتیبه اتڼ ناري. په(٦) نومره :دگړندي اتڼ نارې معرفی کړيدي،او په نمونوکی‌یی ځینودولوته نمونی نه‌دي ورکړي . اوځینوته‌چی یی‌ورکړي هغه هم دوه ډوله سندري دي : (۱)داتڼ ناري(۲) داتڼ سرونه. کوم تصنیف چی استاداتڼ دنارو په باب کړي، هغه داتڼ په‌ترتیب اوانواعو کی ټیک‌دی،مگر اوس‌دهرډول اتڼ نارې دجلا صنف په توگه نه څیړلی کیږي، بلکه موږداتڼ دوه‌ډوله سندرې پیژنو : چی داتڼ دنارو او داتڼ دسرو کوپه نامه یادیږي. داتڼ سرو کی په ځینو خاصو مواردو کی او نارې په‌عامواوخاصو دواړو وختونو کی اتڼ چیان بولی؛ او داتڼ میدانونه پرې تادوه ساتی .دویدي دورې دمتونو په صراحت داتڼ سندرې هم زموږ

په هیوادکی لرغونی سوابق لري (۳۶)او موزد خپلو دغو سندرو فورم هم ډیرلرغونی بولو. دموضوع په لحاظ دعشق او مینی له موضوعاتو سربیره ځینی ملی او تاریخی او قسماً اجتماعی مسایل هم په دې سندروکې بیان شوي دي .

(٤)عام سروکی :

استادجلالی په (١٤) نومره : دمجلس یادنیا ستو بدلی. په (١٧) نومره : دلوگریوبدلی را معرفی کړې دي . چی داهم دپښتو په فولکلوري ادبیاتوکی کوم خاص اصناف نه دي ،او کومی نمونی چی استاد جلالی په دغو برخوکی ښوولی دپښتو داولسی ادبیاتو پهسروکوکی عامسروکیدي چی دپښتنو پهتولو سیموکیدښادیو، اوخوشحالیو دمجلسو نو او محلی نڅاو ومیدانو نو ته لاره لري. پهدغو سندروکی داولسی شاعرانو دسندرو «سرونه» هم گډ شوي دي . په شکلی لحاظ ډیر فورمونه لري. او زیاتره فورمونه یی ډیر زاړه او داولسی ادب محققین وایی چی دجوړښت له مخی داوستایی دورې له سندروسره نښتون لري (۳۷)دغه سندري دمضمون په لحاظ، عشقی، کلتوري او تاریخی موضوعات منعکسوي (۳۸) .

(٥)دنکلونو نارې :

دپښتنو په فولکلورکی دستاینی او منی وړ صنف نکلونه دي چی دغه نکلونه دپښتنو په زیاتروسیمو کی شته. دغه نکلونهدپښتنو

داجتماعی ژوندډیر مختلف څنګونه روښانوي، او دپښتنو دکلتور او معاشرې په خصوص کی ډیرمواددڅېړونکو تـرلاسه کـو ي .
داجتماعی تضادونو، او کلتوري ارزښتو نودپلټنو لـه پاره پـراخ میدان لري (۳۹) دپښتنو په ځینو نکلو نوکی دنکل دقهرمانانـو لـه خوا ځینی منظومی هم ویل شوې،او دنکل په بیلابـیلو برخـو کـی خوندي دي. دموجودو ځینو نکلـو نـو نارې دزرو کالـو پـه شاو خواکی تاریخی قدامت لري. دغه نارې دمضمون په لحاظ دنـکل دمحتویاتو په څیردمختلفو اجتماعی او کلتوري‌رو ابطو ښکاندو یی کوي (٤٠)،او دپښتو داولسی ادب څېړونکی دغه سندرې دپښتو په خاصو سندروکی بولی (٤١)خاصې په دې معنی چی و یونـکی یـی معلوم دي .
استادجلالی په دې رساله کی دنکلو نو نار ې پـه ١٤ نـو مره .
دیوجلا صنف په توګه معرفی کړي،چی‌زموږ دفولکلوري ادبیاتـو دجلاڅانګی په توګه معرفی کیدای هم شی .

(٦) دماشومانو للو :

پەدغه رساله کی په ۱۸ نومره: دکوچنیانو للاو : د فو لـکلو ر ي ادبیاتو دیوه ځانته فورم په‌توګه معرفی‌شوي‌دي.دغه سندرې دمیندو دسندرو یوه برخه ده(٤٢)،چی‌میندې یـی دخپلو ماشومانو دویدو لو له پاره ماشـوم ته‌بولی.دالله هو سندرې په‌لفظی‌لحاظ له‌یوې‌سیمی څخه بل‌ته توپیرونه لري،اودلفظی توپیر په لحاظ یـی‌موږکا بولس

دوله پیداکولای‌شوای. دپښتنی فولکلور ځینو ښاغلو ځیړو نکو دغه سندرې«الله‌هو» دماشومانو په‌سندروکی راوړي دي (٤٣) حال داچی دادماشومانوسندرې نه‌دي بلکه‌دمیندو سندرې دي ،چی دمیندو له‌خوا په د یرو بسیطو الفاظوویلی کیږي دماشومانوسندرې اویاهم‌دماشومانو فولکلوري‌ادب‌هغه‌سندرې‌دي،چی ماشومان یی دلوبو اونورو ساعتیرو په‌مهال کی بولی.

(۷)چار بیتی :

دپښتودفولکلوري ادبیاتودپیژندنی په دغه رساله‌کی په ۱۱ نومره:چار بیتی معرفی‌شوي‌دي.دویلووړده چی‌زموږ دفولکلور په‌خصوصی سندروکی یومهم او دیادونی وړ برخه چار بیتی‌دي. دچار بیتی فورم هم دځپل شکلی سکښت‌له پلوه ډیر زوړ دی، چی ریښه یی زړوار یایی سندروته رسیږي. دتاریخ په‌پوړیوکی‌یی تغییرات منلی ،اوترهغی چی په‌موجوده شکل اوښتی دي.

چار بیتی‌یی په‌دوو عمده‌څانگوویشلی‌دی: (۱) ساده‌چار بیتی (۲) زنځیری چار بیتی چی‌هرډول‌یی بیادمسریودوزن، آهنگ، او دبندونو دشمیر له‌پلوه تو پیرونه سره‌لري(٤٤). دچار بیتی چوکاټ‌دهرډول‌مضمون دبیان اوافادې‌له‌پاره‌مساعددی ، اوهرډول‌اجتماعی ،ملی ،تاریخی او دینی‌اوږده موضوعات‌اوحتی کیسی‌او داستانونه‌پکی‌بیانیدای‌شی.

(۸)سپرې بدلی :

استادغلام جیلانی جلالی په دغه رساله کی په ۱۰ نومره : سپړي بدلی، او په ۱۲ نومره: مستع اشعار داولسی شاعر لرونکو اشعارو دجلاجلا اصنافو په ډول معرفی کړي دي، چی داولسی خصوصی سندو و داو سنی تصنیف له مخی بدلی ، داولسی شاعری یو جلا صنف او هغه سندري چی استاد جلالی دمتسع اشعارو په نامه په بیله نومره معرفی کړي، هغه هم ددغو بدلو په ګنهو فورمی ډولونو کی یو فورم دي- چی موږ یې دجلاصنف په توګه نه بلکه دهمدغو بدلو ، او یادکندهاري پښتنو په اصطلاح په سپړو بدلو کی معرفی کوو. دبدلی شکلی جوړښت هم ډیر لرغونی ، اوتر اسلام دمخه زمانو پهسندرو پورې ار تباط لري او دپښتو شعر و نو یو په زړه پورې ډول دی، چی په او سنی پښتو کی یې هم پههمدې او سنی مفهوم ډیرې زړې نمونی لرو چی کابو څو سوه کلن تاریخ لري. دغهسندرې هم ګڼفورمی ډولونه لري (۲۵) او دمضمون له پلوه هم عشقی، ملی، تاریخی، اجتماعی او کلتوري موضوعات پکی بیان شوي وي .

داوه دپښتو دفولکلوري ادبیاتو ددغی رسالی قسمی پیژندنه. دغه رساله دمرحوم استادغلام جیلانی جلالی له خوا په ۱۳۱۷ش کال کښبل شوی ده. دغه رساله زمادمعلوماتو له مخی دپښتو فولکلوري ادبیاتو دمعرفی لومړنی رساله ده، چی دیوه پښتون لیکوال له خوا کښبل شوې ده. که نهوي مستشرقینو پهدې خصوص کی تر دې دمخهډیر کارونه کړي دي، چی ددار مستترفرانسوي (۱۸۴۹-۱۸۹۴ع) کارو نه پکی ډیر مهم دي

په دې رساله کې د پښتو دفو لکلوري ادبياتو لوړ اتهفو ومه تراتلسو بيلابيلو عناو ينو لاندې معرفي شوي دي.
زما دمعلو ما تو له مخې په پښتو کې مرحوم غلام محي الدين افغان (۱۳۱۱ ش مړ) دمتلو نود ټولو لو او خپر و لو په برخه کې (سراج الاخبار افغاني) مرحوم محمدعثمان خان پښتون (۱۳٤۰ ش مړ) د کندهار داد- بي انجمن (د تاسيس کال ۱۳۱۱ ش) د پښتو مجلې په ګڼو کې دمتلو نو اولنۍ يو په باب دمقالو او ددغودوو څانګو د نمو نو دخپر و لو په برخه کې (پښتو مجلې ۱۳۱٤ ـ ۱۳۱۵ ش کال ګڼې) مرحوم استاد محمد ګل نو ري (۱۳۵۱ ش مړ) ديا دې شو ې پښتو مجلې په ځينو ګڼو کې دفولکلوري مقالو دليکلو او دفولکلور د ځينو څانګو د معرفي په برخه کې (د تکيه کلامو نو مقاله) مرحوم استادخادم په کابل کالنۍ کې (٤٦) د پښتو نولۍ داساساتو د معرفي په برخه کې. تر استاد جلالي دمخه دي، ځکه د وی ددغې رسالې تر چاپ دمخه د پښتني فولکلور او کلتور دځينو خو او و دمعرفي په برخه کې غير مرتب کار و نه کړي دي . او د مرتبو کار و په لړ کې د استاد جلالي کار (خصوصاً د فولکلوري ادبيا- تو دمعرفي په برخه کې) لومړ ني کارګا نه شي .
يادو نه: که څه هم درسالې په نامه کې د«موسيقي» کلمه په مشخص مفهوم راغلې او لوستو نکي ترې دا نتيجه اخلې، چې په رساله کې به دموسيقي او دموسيقي دآلاتو ، او زانو او آهنګو نو په باب مفصلې خبر ې وي، حال دا چې دڅو محدودو ابتدايي خبرو پر ته نور څه نه پکې مو ندل کيږي. او له دې بحثه يې بايد لوستو نکي ديو ې جامع برخې توقع و نه لري ، او کوم کار چې سيدانصار ناصري دهلوي دسر حدکی موسيقي» (۵۰) تر سر ليک لاندې کړی دی، د پښتني موسيقي دمعرفي په باب ښه مواد لري (اټک کې اسپار ص ۳۲۹ ـ ۳۸٤)

یادښتونه :

(۱)عبدالروف بینوا (استاد) پښتو روزنه ص ۱۲۰، د۱۳۵۷ ش کال چاپ، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز .
(۲) صدیق الله رشتین (پوهاند) وزمه، د۱۳٤۱ کال اگڼه۱۷ مخ .
۳ پښتو چاپی آثار، ص۲۰۵ د۱۳۵۷ ش کال چاپ، دپښتو دپیاوړتیا او پرمختیا آمریت.
(٤)اوسنی لیکوال ج اص ..۲، د۱۳٤۰ کال چاپ، دکتاب چاپولو مؤسسه- کابل.
(۵) کابل کالنی د۱۳۱۸ش کال گڼه ص۲٤۱.
(٦)غزنه وغزنویان۳۳٦مخ.
(۷) اوسنی لیکوال ج۱ص ۲.۲
(۸) نامهٔ احمدشاه ص یك .
(۹) کابل کالنی ح. د۱۳۱۳ کال گڼه۳۱ـ.٦مخونه.
(۱۰) آریانادارةالمعارف، ج ۳ ص، ٤۹۵ـ٦۵۳ مخونه. د۱۳۳۷ش کال چاپ- کابل.
(۱۱) افغانستان ص ۱٤۹ - ۳۱۰، د۱۳۳۷ ش چاپ کابل .
(۱۲) دپښتو مجله، دڅلورم کال (۱۳۱٤ش) ۷ گڼه ۱-٤مخونه۸گڼه ۱-۷ مخونه .
(۱۳) کابل مجله سال سوم، شماره سوم، ص ۲۱۸ - ۲۳۹

(۱٤) کابل مجله، سال چهارم، شماره اول، ص۵۱ـ۵۵.

(۱۵) استاد دغه مقاله له مصري منابعو څخه ترجمه کړې ده (وګورئ ! کابل مجله ، ددریم کال ۳ ګڼه ۲٤۰ ـ ۲٤٦) .

(۱٦) کابل مجله. څلورم کال ٤ ګڼه ص۱۷ـ۲۱.

(۷) کابل مجله ۵ کال ۵ ګڼه ص۲۳ـ۳۰

(۱۸) وګورئ! ډرامه، دمحمدافضل رضا، ص ٤۹ د۱۹٦۵ ع کال . دپېښور چاپ ، عظیم پبلشنګ هاوس.

(۱۹) سرنوشت شاعر ص ۳ـ٤. دغزنی چاپ .

(۲۰) عشق وجستجو ص ۱ دغزنی چاپ .

(۲۱) دیوان ابو المجدمجدو دبن ادم سنایی. ص: هشتادو پنج ـ هشتادو ـ شش دتهران چاپ .

(۲۲) تاریخ نظم و نثر پارسی ج۱ ص۷٦ـ۷۷، د۱۳٤٤ کال دتهران چاپ

(۲۳) عزیزالدین یو پلزي، درة الزمان ص ٤٦٤ د۱۳۳۷ ش کال چاپ ، تاریخ ټولنه ـ کابل .

(۲٤) رضامایل هروی ، معرفی روزنامه ها، جرایدو مجلات ، ص ۹۱، د۱۳٤۲ ش کال چاپ . کابل.

(۲۵) سه مقاله ، و سه قطعه شعر از پنج دانشمد کشور درباره ٔ ابن سینا ، ص۲۲ـ٤۰.

(۲٦) کابل مجله دریم کال دوهمه ګڼه ۱۰۵ـ۱۱۳ مخونه.

(۲۷) اوسنی لیکوال، ج۱ ص ۲۰٤ـ۲۰۸.

(۲۸) کابل کالنی، ۱۳۱۸ش کال ص۲۴۳ـ۲۴۴.

(۲۹)طلوع افغان، ۲۵گڼه، ۱۳۰۱ش.

(۳۰) کابل کالنی د۱۲۱۸ش کال گڼه‌ص ،۲۲۱.

(۳۱)حبیب الله رفیع دغر نی‌سندر ې ( دگران غرو ال تالیف )
مقدمه ،۹ـ۲۲مخو نه د۱۳۶۰ ش کال چاپ ، پښتو ټو لنه ـ کا بل،

(۳۲)دهیو ادفو لکلار ی‌مو سیقی ته یو ه کتنه ص۲ـ۳،د
«عامه‌اطلاعات» په‌لړی کی۲۶خپر و نه .

(۳۳) جهانی ،عبدالبار ی ( مترجم )داولسی سندرو نو م او خصلت
فر هنگ مر دم ،۳کال ۱۳۵۹،۲ـ۳ گڼه،۵۲ مخ .

(۳٤) جو نز ا نو لډسن،سپو ږ میه کړ نګ و هه ر اخیژ ه،ص۲ـ۹(مفصل
بحث)د۱۹٦۹ ع کال د پیښو ر چاپ .

(۳۵) فولکلور ي جو اهر ؛د پر و فیسو ر سیال کاکړ ص٦٤ـ٦۵
د۱۹۷۹ع کال د کو ټی چاپ .

(۳٦)دافغانستان پخوانی تار یخ ج ۱ص ۱٦۰،داحمدعلی کهزاد؛
د۱۳۳٤ش کال‌چاپ .

(۳۷)د پښتو داولسی ادبلار ې؛دخیر ندو ی دوست، ص۱۳۷،
د۱۳۵٦ش کال چاپ، پښتو ټو لنه- کا بل .

(۳۸)سر و کی؛ دعبد الکریم پتنګ ، ټو لو نه.دهیو ادمل مقدمه؛
دیار لسم، پنځلسم مخو نه.د۱۳۵۸ش کال‌چاپ.

(۳۹)جهانی ؛عبدالبار ي،ملی هندار ې ته یو ه کتنه، پښتو چاپی آثار

ص۱۵۱؛ د۱۳۵۷ش کال چاپ- کابل .
(٤۰) لوي استاد؛ پوهاند عبدالحی حبیبی، پښتو ادب داجتماعی ځیر- نودپاره، وژمه؛ ۱۳٤٤ کال ۱-۲-۳ گڼه ص۱۷-۱۸ .
(٤۱) وگورئ ! آریانا مجله د(۱۳٤۷) ش ۳ گڼه؛ ٦۳ مخ؛ دښاغلی رفیع مقاله.
(٤۲) وگورئ! پښتو لوك گیت ص۷۵-۸۱، فارغ بخاري دلاهور- چاپ.
(٤۳) وگورئ! دکوچنیانو شفاهی ادب؛ دشاه ولی ساپی. ص۷؛ کابل پوهنتون؛ کتابخانه؛ پښتنی فولکلور، دپروفیسور سیال کاکړ تالیف ص ۳٦-۳۸-۱۹۷۱ ع کال؛ کوټه، فولکلوری گلونه دښاغلی عای- محمد منگل؛ ص۲۵٦؛ د۱۳٦۰ش کال چاپ؛ پښتو ټولنه .
(٤٤) دخلکو سندري؛ دښاغلی رفیع ص۲۲٤ د۱۳۲۹ش کال چاپ؛ انجمن تاریخ- کابل.
(٤۵) پښتو ځیړنی ص۵٤ دپوهاند رښتین مقاله؛ د(۱۳۵٦) ش کال چاپ
(٤٦) کابل کالنی؛ د۱۳۱٦ش کال گڼه، ۵٦۸-٦٤۷ مخونه.
(٤۷) دپښتو دادب تاریخ؛ دپوهاند رښتین تالیف ۱۳۲۵ ش پښتو ټولنه کابل.
(٤۸) دلوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی یاد ښتونه.
(٤۹) دښاغلی حبیب الله رفیع یادښتونه.
(۵۰) دځیړنمل دوکتور عبدالطیف جلالی یادښتونه.
(۵۱) دځیړنمل دوکتور محمد یعقوب واحدي یادښتونه .
(۵۲) دپوهاند دوکتور جاوید یادښتونه .

## سریزه

هر ملت پخپل ادب او خپلو ملي ممیزاتو ژوندی پاتیږي او پخپلو سپیڅلو ښیګڼو ویاړي. که څه هم له ډیره وخته موږ پخپل ګرانهیواد کې دپر دي ادب او موسیقی اغیز ې وینو، مګر دا اغیز ې فقط په ښار و کې لیدلی کیږي کلی داو د پښتو نخوا لوړغر و نه لدې پر دیو اغیز و څخه تش دي پښتانه ځانته یو بیل سپیڅلی ادب او موسیقی لري چې دغه نو موږ خپل پښتني غوره ادب او موسیقي ګڼو او په و یاړو! دا زموږ ادب او سپیڅلی پښتني موسیقي یوازې زموږ دی، دپر دو هیڅ راز اغیزه نه کې لیدله کیږي!

زموږ دملي ښیګڼو په ژوندون کې داخبره په پښتنو ځلمو لازمه ده، چې دوی دکه خپل ښاغلي نیکو نه او پلارو نه «پر دې ښې نیمه خو ا» و ګڼې او خپل ملي ادب او موسیقي ژوندي کې! ځکه چې طلوع افغان ځان د ملي ښیګړ و خادم ګڼي، نو موږ څو پلا دمخه هم پر دې موضوع مضامین لیکلی وو، او س د پښتو ښاغلی او پیاوړي لیکوال جناب غلام جیلانی خان «جلالی» دقندهار مدیر معارف، ددې مضمون حق ادا کړی او لاندینۍ برجسته او مفصله څیر نه ئې پر کښلې ده. موږ ددوی له ملي احساساتو

تشکر کوو ، او مضمون ئی په ډیره خوښی پښتنو ته وړاندی کوو
گوندي نور پښتانه ځلمی هم دې خوا ته په ځیر کاته وکی .

په درناوي

عبدالحی حبیبی

دطلوع افغان مسوول مدیر

۱۳۱۷ ش - ده خواجه - کندهار

---

(۱) دپښتنی فولکلور په باب دغه ځیړنه لومړی ځل په ۱۳۱۷ ش کال د کندهار دطلوع افغان په کال گڼه (۱۰–۱۹) مخونو کی چاپ شوې وه، موږ درسالی داهمیت له مخې له هغی خپرونی رانقل کړه اديت شوه، چې دادی، دځینو نووځرگندونو سره دپښتنی کلتور او فولکلور مینانو ته وړاندي کیږي .

# دپښتو ځانتي ادب او موسيقي

(۱) دادب او موسيقي پيژندګلوي

(۲) په پښتو کي ددوی استقلال

(٤) دارسطو ويش او دپښتو ادبي تطبيقات

(٤) اتلس ببلا بيلي ادبي ټوټي .

اهميت او غور ه والی دادبيا تو دبشر په ژوند کي دا دول څر ګنده موضوع ده، چي په تفصيل اړه نلري. ځکه هغه وخت چي کامله قدرة دڅښتن تعالی انسان پيدا کړ او عقل، ذوق، و جدان ئي ورله ورکړ، نو ادب هم ورسره مل و. وجداني تأثر چي يو سړی په لوزه تنده، ښادي، او الم پوهوي، دا راز نسان دخارجي مناظرو څخه هم اغيزه اخلي او هغه احساسات چي دشعر يا موزون نثر په څير دانسانانو په ژبه ښکاره پيدا کوي، په لوی سر کي وجداني عکس العمل دی چي له انفعاله څخه دخارجي مناظرو، دانسانانو له باطني عمله څخه. عقل ته انتقال کړي، او بيا په ژبه يا په کاغذ باندي، د شعر يا ادبي نثر، تا بلو او درامی په څير ښکاري. نو هر کله چي دا احساسات ديوه تأثر نتيجه

وي اروېدل يا لوست اولېده ئي په نوروباندي هم اغيزه کوي نو داموزوني توتې چې وجداني ادراك ئې داغـيزې سبب گـر زي دادب يا ادبياتو په نامه اوهغه موزوني نغمې چې اروېدل ئې باعث دبا طني تأ ثرثا بتېږي دموسيقي په عنوان شهرت لري. دا مـفهو م پخپل ذات کې خورا پراخ دی چې تنها په شعر او نثر پوري اړتيا نه نيسي، بلکه تصاوير ،رسوم،تابلوگان،مـنتظر فه صنايع،تـراژدي او کميدي ډرامې هم په دې برخه کې گنډلې کيږي. او په دې حس کې ټول بشريت گډون او شرکت لري . نهايت الامرداوي چې په ځينو اشخاصو کې داډول احساسات غښتلي او په ځينو کې ضعيف او کمزوره وي. نوهغه افراد چې دغښتليواحساساتو خښتن ثابت شي هغه کسان ادبا بولي،اودانورددوی دآثارولوستونکي بـلونـکي يا اوريدونـکي شميرل کيږي.

اوس داخبره چې ولې انسانان ديوه ادب يا موسيقي طرفداره نه دي،اوهرټبر بېل بېل کورني ادبيات لري . په لوی سر کې يوه غامضه نفسي موضوع ده،چې گرد تفصيلات يې دلته نه ځائـيږي. البته هغه نو درو حياتو بحث دی،چې پخپل موردکې سری د هـغه بيان کولای شي. په دې مقابله کې دومره ويلای شو : داډول چې ملل دجسمي جوړښت له مخې يو رازنه دي، او هـر کام گـوښې گوښې کورني اوهيوادي رسوم عادات دودونه اوعنعنات لـري. داډول،ادبي او موسيقي مميزات ددوی هم گوښې ليدل کيږي.جغرافي

البته اقلیم، هوا، نور انسانی حاجات او د طبیعی تاریخ نتایج هم په دې خبره کی غټی اغیزې کولای شی، او هم ئی کړي دي. ځکه موږ ئی وینو، چی ادبی اصطلاحات او محیطی ادب، موسیقی د پخوانی یونان بیل دي، او عربو سم دخپله روح او محیط سره بیل اصطلاحات په شعر او نغمه کی ځانته اختیار کړه. هم داراز، چین، هند، او فرس لکه چی هر محیط گوښی گوښی هیواد و نه گڼل کیږي. هر هیواد ځانته ځانته د کورنیو ادبیاتو، موسیقی څښتنان لیدل کیږي، مثلاً د پخوانی یونان ادبافلسفی اشعار، حکمتی ژوند او د بحر مناظر پخپلو آثار وکی ستایی او عربو د ماندره هستوگنه، حماسی توتی یاد او ښو کاروانونه او نور محیطی شیان دخپلو ادبیاتو موضوعات نیولی، داراز لکه چی نژاد، اقلیم د ادب په ممیزاتو کی اثر غورزوي، جسمی جوړښت (ساختمان) عرف عادات، خویونه هم د کامو په کومو، ستونیو (حلقومو) کی اغیزه کړي نو تو له نسبت یو بل ته په اوزدوالی، لندتوب اوازانګو د موسیقی زغو کی ځله بیل بیل لیدل کیږی. او هر تبر ځانته ځانته پخپلو ادبی آثارو، موسیقی ممیزاتو پیژندل کیږي او هر کام دخپله ځانه خوښ او پخپلو ممیزاتو افتخار کوي.

هغه ادب او موسیقی چی په دې مورد کی زموږ د بحث محور بلل کیږي له هغو ادبیاتو او موسیقی څخه بیل دي هغه د کلاسیک ادب او موسیقی د نورو ژبو په بحورو، عروضو او موسیقی مقاماتو پوري اړه درلوده یائی لري او په پردې اساس باندې بنا شوي دي. له دې

تمهیده دا ښکاري، چې دهر کام ادب او موسیقي دوه ښاخه لري. یوهغه چې دیو ژوندی او پراخې مشهورې تاریخي ژبې په ادبي موسیقي څلو (قواعدو) باندې بناوې لکه دیورپ کلاسیکي یا اسکو- لاستیکي ادب چې دیونان، روم ادبي او غنایي اغیزه پکې ښکار یدله یادمشرق پخوانی ادب او موسیقي چې دعربو، عربي او سانسکرت له اوزانو، بحورو، عروضو، قوافیو، نغمو او راګ، راګنیو څخه اخیستل شوې ؤ او بل دا ادب او موسیقي دي چې هغه له اعماقو در وحیاتو دیوه ملت څخه پورته کیږي. او بې دملي جذباتو، نژادي کوائفو یامحیطي منظر و دل چاپه ادبي قواعدو پورې اړه نلري. او همدغه ادب او موسیقي موږ «کورنی ادبیات» (۱) بولو یائی دملي ممیزاتو څخه شمیرو، او دا برخه ابدآ یو محدود ادب یا تکلفي موسیقي نه وي، چې په دې کې دکم پردي تېر تقلید شوی وي، بلکه دارازیو بوب ادب

---

(۱) له کورنی ادبیات څخه داستاد جلالي مقصد «اولسی ادبیات» دی، چې زموږ په ادبي خیرنو کې دملي ادبیاتو په نامه هم قید دي، او په اوسني اصطلاح یې موږ «فولکلوري» ادبیات بولو، او ځینې یې شفاهي ادب بولي، او دماکسیم ګورکي په قول (ادبیات ص ۲۴۰/۱۳۴۵ش) دغه ادب (فولکلور) دا ولسونو او پرګنو دژبې محصول دی. او ځینو فولکور پوهانو لفظي هنرهم بللی دی.

او موسیقي دي (۳) چې پخپل واك دو ګروله کومو، ستونیو، ژبو څخه په یوه طبیعي دول سره پیداشوي وي۔ نو وروسته له دې بیانه څخه موږ هغه لومړی ښاخ فني یا تکلفي ادب، موسیقي۔او دابل حسي، طبیعي بللای شو یاهغه «تقلیدي» او دا «ملي او اجتهادي» ادبیات او موسیقي بولو.

اوس لومړی، پلادا خبره خور ادرنه تمامیږي، که څوك وو ایي چې د پښتو ادبیات یاموسیقي دنورو له ادبیاتو، موسیقۍ څخه بیل او یو ځانته استقلال لري. په زیاته وهغوارو یدونکو ته چې دوئ ددې ژبې د پراختیا پرشا وخوا احاطه نلري، او یادلا تعلقي به ستر ګه و رته ګوري. زه یوملي لیکوال یم چې همیشه داادعالرم. او اوس هم په تینګه داویلی شم د پښتو ادبیات مخصوصاً هغه کورنۍ توتې (قطعات) چې پښتنو ملي شاعرانو له

---

(۳) کومه موسیقي چې داستاد جلالي مقصدده، هغه هم کلیوالی موسیقي ده، چې دفولکلورڅیړني جزاو په دغسې څیړنو کې مطالعه کیږي. ددغه دول موسیقي په باب ویل کیږي: «فولکلوري موسیقي دعنعنوي موسیقي هغه تولیدی، چې دشفاهي انتقال دجریانا تو له مخې تکامل او پر مختګ کوي. هغه عوامل چې عنعنات تري جوړ شوي دادي: (۱) دماضي او حال ترمنځ دپیوستون کړی (۲) هغه بدلون چې دفرد او یاګروپ له خلاق طبیعي میلان څخه رازیږي (۳) دټولنې له خوا دداسې اشکالو انتخاب چې موسیقي پکې ژوندۍ پاتیږي (انسایکلو پیدیا بریتانیکا ج ۹ ص ۵۲۲)

خورا پخوا خپل اصیل احساسات پکښکی ښکاره کړي دی. دادول

ځانتنی او یوانځنی ادبیات دي، چی نه دخیال دروخی پرنور واړه لري او نه دنغمی او تغزل دځنګه دچاپه ادبی بحورو، عروضو پوري څه تعلق نیسی .

البته دا بەلري چی کله کله ځینی دپښتنو دباري شاعران دعربی، فارسی یاهندي ادبیاتو ترنفوذ لاندې تللي وي یایی پخپلو غزلو، قصائدو او اشعارو کی هغه احساسات ښکاره کړي وي، چی هغه دپردي ادبی روح وزمه لري . لاکن زموږ وینا دلته په هغو ادبی تړو کرانو پوري اړه لري چی هغه دپښتو او پښتنو الی پراساس ودان شوي دي، او دعام وګړي د ژغو یانار وپه ډول خپل عشقی یاحماسي احساسات پکښیکی ښکاره دي اودهغی بو بی پښتنو الی سا پکی چلیږي، چی هغه دچاله ادبی فنو نو، دودونو سره کومه تصنعی اړه نلري .

دایو ملی بر اوده یادتېرغوره نه ده، چی زه هر کله په دې باره کی څه لیکم یاخبرې اترې پکی کوم، بلکه داوینا زما په عقیده یوه داراز جوته او ټینګه ادعاده چی دپښتنو دادبی ویش له روخی وهرچا ته ښه تره څرګندیږي ، او که څوك دانصاف په کتنه په دې باره کی یوه څیړنه پلټنه وکی ، او چار چار پیره دپښتو ملی ادبیات ځله وامري (و پلټی) نوبه وپوهیږ ي چی زه په دې باره کی کومه بر اوده نه کوم، اوما دخپلی پلټنی، څیړ نی په اثر ددې جبرحقیقت بیامیندلی او ځینی خپلی ملی، ادبی تو تی می دنورو ژبو له اغیز وڅخه بیلی کړي دي . داراز

ملي نغمی دپښتو ، چی ددې ژبی، موسيقی لره‌تن‌اوبدن ورکوي.
هم تابع دهغه طول اوقصردی، چی په‌ادبی تـوتودې، ژبې کـی
لیدل کیږی. هوکی ماپخپله لیدلی اوریدلی دي چی ځینی شوقیان
زموږملي ادبی ټوټی په کوموهندي یافارسی نغمو پوری تړی‌اووائی
چی‌دادی ،فکر وکړئ‌دپښتوږغونه په‌څه راز ددې څرگندوموسیقی
څلو(قواعدو ) څخه وتای شی ؟

اوهغه‌څوك چی‌دا باسی‌نوهغه په‌موسیقی نه‌پوهیږي یادابږغونه
دنن په‌اغیزونه‌دي سینگار شوي.خوشی‌دډگر ،وچی‌سړي‌ناريې‌دي
چی په‌ځنگلی‌دودبللی کیږي یاد اوریدووړنه‌دي .داراز خبروتـه
ځـینوخوش باورو پښتنو هم غـوږنـیوه‌اوغـوږ نیسی‌نودا سبب
دی چی ځینی زموږ پښتانه‌ادیبان هم د خپلو ادبیاتواو مو سیقی څخه
ناویسادي زيارنه‌یکسی باسی‌اود روزنی‌وړئی نه‌بولی.
هو کی‌زه‌ناگاره‌نه‌یم‌چی‌زموږملی ،ادبی‌ناریې ،لنډی ،ږغونه‌څه مصنوعی
تفنن‌نلـري‌اوپردي‌اروېدونکی‌په‌اسانه‌نشی‌پر ځان‌راغونډولاي .
علت‌ددې‌ښکاره دی‌ولی پښتنو دومره‌چی‌په‌پردواد بیاتو،موسیقی کی
زیارایستلی‌یائی‌باسی اروي‌ئی،آرووي‌ئی ، نقصانونه پر ي گالی
دخپلو ادبیاتو ،ږغو ،لنډیو ،آوازو ،پر واگیرنه‌دی،غم‌ئی‌نه‌دي‌خوړلی.
دخپل‌ادبی‌ساوتوب مرسته‌نه‌کا،او په‌اهمیت‌ئی‌ځانونه،نه‌پو هوي .
نوهر کله چی‌لومړ ی پلا پښتانه ودې خوا ته دلاتعلقی په سترگه
وگوري. موږبه داخبره په پرد وخه دول ومنو!ا وولی به‌د دو ی

دلایل او خبري پرموز اغیزه نکه ؟

په دې وینا کی څه شك نشته: دادول چیعرب عربی او هندي ،هندیان اوارو پائـی ژبی پخپله ارو پایان پالی، پسو راو اوز ده‌ور کوي. همدا راز به پښتو پښتانه‌روزي او ددې په پالنه کی به‌زیار کاږي. ادبیات به‌ئی راغونډوي، موسیقی به‌ئی ځانته کوي اولکه تاریخی استقلال‌چی ژوندي تېرته ضروري او حیاتی امر دی، دارنگه ادبی تجدید هم وهغه‌تېرته حیاتی اړتیا بلله کېږي ـ ځکه که څوك نن روح وژوندی دنیاته‌وگوري، او په‌ځیرسره کتنه وکه. دارده‌جو ته لیده کیږي : هغومره‌چی خپل ادب اوتاریخ پرافرادو او ټولنو اغیزي کوي. دغو- مره ملل له‌خپل ملی موسیقی‌څخه‌هم‌-برخه‌اخلی. اوهرتېر نن‌ورځ‌دا ضروري اړتیا ځانته‌مشخصه کړې‌ده‌البته که څه هم په عمومی دول اروپائی موسیقی بیله، اوشرقی موسیقی بیله‌ده. اما په‌لږغور ردا معلومیږي چی‌دهرچاموسیقی بیل‌روح‌لري، یعنی په‌دې‌دول چی دآلمان موسیقی د(موزار) نغمی زغوي دنوروتېروموسیقی هم په‌یورپ کی ځانته ممیزات‌لري، او پر هرملت‌باندې‌هغه شانی چی خپل ملی‌مارش‌اغیزه کوي. دبل چاسراوتال یاحماسی مارشونه هغه‌اغیزه اومعنوي کتنه دوی‌ته‌نه‌ښندي.

البته‌فنی‌ادب‌دهرچاسره گډاوشریك‌دی اولکه‌چی‌علم‌یوازې ترکومه ملته‌پوري خصوصیت نلري. منطقی‌اشعار هم دگرد بشریت‌مال‌بالل کیږي. امااصطلاحی‌روح دادب‌اوموسیقی‌دهرچابیل‌وی او بیل دی

مثلاً یوه موزونه ادبی جمله چې هغه دیوه مخصوص گروپ له تو ریو څخه روغه شوي وي پر یوه تېر داد ول زیا ته اغیزه کوي چې اندازه نلري ، ولي که مفهوم د هغې جملې په بله ژبه تر جمه شي و بل تېرته هغه راز تأثیر نه بخښي . او همدا باعث دی چې ترجمي که منثو ري وي ، یا منظو مې د اصل ځای نشي نیولی . نو د اراز هم د مو سیقي نغمې د هر تو کم ځانته اغیزې ښندي ، یا داچې یوه نغمه داغیزې له رویه و یوه کام ته صفت ایسي او بل ته هغه نغمه ممکنه ده قباحت و ایسي . نو اوس که چیرې د پښتو ادب یاد پښتو ژغونه ، ناري ، لنډۍ کوم تو کم ځنګلي یاد ګر ناوړه نغمې و بولي او خپلې فني یا مصنوعي نغمې پر ګر دو ښي و ګڼي موږ به و ګو رو چې هغه ر ښتیاني پښتانه څه وائي او له کومه ژغه د نغمې ډیره اغیزه اخلي . نشاطي حظ ځني و ړي . دا ښکاره ده خپلې ادبي تو تې یاغنائي نغمې تر ټو لو ړې بولي . حتی زه و یلای شم چې یوه دارنګه ملي ناره به یو اصیل پښتون ، په خورا توده پر دۍ نغمه یا مقام باندې که څه هم له ښو ښو سازو سره ژغیږي ، ور نه کا او نه به غوږ ور له و نیسي داسبب دی چې ملي مار شو نه پر اساس د ملي روح او ژبې جوړ یږي او بلـل کیږي .

داخبره چې دو ګړو (عوامو) ذوق د تعریف و ړ نه وي . او خواص د دوی ذوق ته اهمیت نه ور کوي ، بلکـه هغه شی باید چې په درنه و کوت شي چې خواص پرې غـو نډ یږي یا ئې دوی خوښوي

یا دغتیا نو له لو ړو احساساتو څخه ترجمانی کوي، دا په ګردو شیانو کی
ځلی ( قانون ) نه بلل کیږي، بلکه په ځینو شیانو کی دخواصو تر ذوق
دوګړیو ( عوامو ) ذوق اهمیت لري . مد ققینو دا خبره خوار ښه پلټلې
او علمی یا ادبی تفاوت دیوه ټبر دعوامو اه ادبی سو یی څرګندیږي نو په
دې باره کی که چیرې یو مورخ وغواړي دکوم ټبر له پخوانی
ژوندانه څخه څه ولیکی او دتاریخی فلسفی له رویه دهغه ملت پر ادبی
مقدراتو کوم قضاوت وکړي ، نو دا موضوع دخواصو آثار، تراجم
ددې ټبر دادبی معلوماتو نمونه نه بولی بلکه دعوامو له پلوه ئی پلټنی
یا عمومی دول دعمومی تولنـی له روح څخه نیسی ، نتایج پر يي مرتب کوی .
ژبه ، ملی ادب یا د کام موسیقی له هغو شیانو څخه ګڼله کیږي چی په
دوی کـی لغات خبري اتري دجامعـی دذوق او دود ونو له رویه
اعتبار لري او داتو تی دخواصو پر مصنوعی ذوق یا پر له ګډو اصطلاحاتو
لغاتو نه بنا کیږی ، او که بیا چیرته بناشی نو هغه به دنورو له ذوقه سره
خلط او ددې توکم مال به نه وي ، ادبی یا فنی تجددچی په نوو پیړیو
کی په یورپ کی پید اشو او کلاسیکی ادب یا اسکولاستیکی ذوق او
او دودونو له ئی ماته ور کړه ، او په تاریخ کی هغه تجدد رفرم یا رو-
نسانس بولی ، عبارت له بریه دوګړیو پر خواصو باندې ، یا دا چی
عمومی اصطلاحات ، سبك او سلیقه چې پـوهنه ئی هرچاته اسانه
ایسیده ، ژر تر ژره ئـی وټول ملت ته افاده ور کـوله ، لکه ادبیات
موسیقی مستظرفه صنایع ، فنی شیان او ګرده حیاتی امور درونساس

په زمانـه کی سم دو ګړیو (عوامـو) پرذوق عموعی پـوهنه باندي جوړشوه اولوړو اشخاصو هم ودې سلیقی ته اهمیت ورکړ . ځکه جامعه ئی په دې و پوهوله چې حقیقی ادب، مستظرفه صنایع یا موسیقی دیوه ټبر هغه وي چې واړه کام هغه یو راز خوښوي. هر سړی پخپله سانګه هغه اسانه بولی او په یوې طایفی پورې اختصاص نلري «دانتی» لوړ ایټالوي ادیب په لیکلو د (ډیوین کمیډي) یا پاسکال او نورو لوړو فرانسوي لیکوالو چې دوی له خپلو ملی اشعارو نغمو څخه تقلید ي سلیقه بیرته کړه خواصو له ئی داخبره څرګنده وګړزوله چې و ټبر ته هغـه ادب او موسیقی ضروري امر بلل کیږي چې بنائی دجامعی پر ذوق وي، ګر-دملت پرې یو هیږي او دځان مال ئی بولی داراز په بیله یا کـی هم هغـه سبـک اودودو نه ددې ټـبر مـال وګـڼل شـی.

هو کی دبل چادسود مندو تقالید و په زدکړه کی څه ضرر نشته اماد پر-دی ټبر ملی ممیزات سر بیره پر دی چې ګرده ملت دهغو څخه برخه نشی اخستلاي او که یې بیا واخلی یادخپلو ملی ممیزاتو پرځای دبل چا دوداو بایده تقلید کی، نو دا تقالید دامقلد ټبر هیڅکله نشی لوړولای. یو فیلسوف وایی: «دپردو تقالیدو استاد څوك استاد نه بولی، بلکه شاګرد یی بولی» یعنی که چیر ته موږ هم ترابده یورې، پردی بـدلی بولو، یائی اروو، او پوهه نا پوهه پر هغو تحسین وایو، سرو نه ښـوروو، دا داسی ایسی «چې دوډی خپله خورو او ثنا دبل وایو» دازموږ صفت نه

بلل کیږی او نههغه پردي ممیزات زموږ باعثدافتخار گرزی .

هغه شیان چی ملل ځلهویشی، نژادي عادات ، تاریخی ابدات پخوانی افتخارات ، ادب او ملی امتیازات دی. چی طبیعی ادبیات او موسیقی ، دسبک او نغمې یاداثر او اغیزی لهرو یهدهغی جملی گڼل کیږی

پهدنیا کی نن ورځ موسیقی یا تغزل دادبی تو تو ، یوازی دساعت تیري شیان یا دتفریح اسباب نه بلل کیږي ، بلکه هرچالره خپل ادبی سبک او ملی موسیقي دعمومی روح مربی دملی ژوندون محرک بالله شی، او داشیان پهیوه غیر مرئی کیف سرهدجامعی احساسات و یښوي روزنه ئی کوي استعداد دتبر، لهاستعداددهژبې او ادبیاتو دهغه کام معلومیږي کهچیر تهدیوه کام ژبه وسعت لری، او دې پراخوالی، خپل اهمیتداد بیاتو پر استقلال څرگند کړی وی، نو کیفیت ددیژبی مسلم او دهغه کام لیاقت ښکاره دی، نوره پلټنه نه غواړي .

## پهپښتو کی دادب او موسیقی استقلال

ما چې دا ادعا کړیده چې دپښتو ادب او موسیقی پخپل کورنی ویش کی استقلال لري . البته پخواتر دیچې زه دا ادعا پـه ټینگو دلایلو ثابته کم . لومړی پـلازما دوینا صدق دپښتو پراخـوالی او د پښتنو له تاریخی کفایته څخه هم ثابتیږي ځکهتاریـخ داخبره ښکاره کوي، چې دځلورو زرو کلورا پهدیخوا پښتنودهرر ازپیښو پهمخ کی مقاومت کړی دی، دنام او ښبان خاوندان دي، پردي نفوذ تـه ئی

ځان ته دی ور کړی ، او پښتو ددوی ملی ژبی لـکه چې نن و رځ ادبیات لري، تردې پخوائی ئی هم ژوند درلود، ادب او موسیقی ئـی درلود، نـو هـر کله چې یـوه ژبـه دومـره مـوده پخپل استقلال پاته شی او پر دی ژبی زیاته اغیزه پر ې ونه کی . دفلسفی قانـو ن له مخه یقیناً ادب او موسیقی بـه ئی هـم د پردو تقالید وڅخه ځانته او مستقل وي . ځکه چې ژونـد دادب او مـوسیقی دکام لـه ژونده سره لازم او ملزوم دی یعنی زمانی انفکاك نه قبلوي.

سر بیره پر دې اوس زه دخپلو ناقصو تحقیقاتو لـه رویه څخه په لاندینی برخـه ددې مقالی کی داډول (۱۸) بیلی بیلی ادبـی ټوټی دپښتو لیکم ، چې هــره ټوټه دوزن، ادبـی جوړښت او نغمی له حیثه دبلی ټوټی سره برابر والی نلري . دارازهــره ټوټه بــه ئی لــه پردو بحورو،اوزانو،قوافیو،راګ،راګنی(٤)او دموسیقی مقاماتو سره هم سرنه خوري . پخپل کورنی ویش کی هم آزاد اودمفهوم

---

(٤) راګ : سر، نغمه، ګانـا (سندریویـل) (اردو-پښتو لغت ص ۲۰۵٤)ګیت (سندره) سرود، اوپه شپږډوله دی : بهیرو، ملار سارنګ، هنډول، بسنت، دیپک .

راګنی : سر،آهنګ، نوا (هندی-اردو لغت ص ۲۷۵) .

په تحفة الهندکی یـی د راګ او راګنی پـه باب کښلی : «ببایـد دانست که راګ بـه رای ممدوده وکاف عجمی خفیفه بـه معنی مقام باشد وآن به حسب قرارداد اغانی هند شش راګ است،وهر یکی ازآنها پنج راګنی وهشت پتر دارد . ودربعضی مــت برای هر راګی شش راګنی وهشت پترو برای هرپتری یک بهارجا قرار یافته راګها به منزلهٔ مردانند، وراګنی ها به منزله زنان»

له پلوه هم کټ مټ د پښتنو احساسات را ښکاروي . دالاهم لري چې
هر ه تو ته ددې ادبیاتو که څه هم قصداً دفن په قواعدو نه ده جوړه
شوې، او دعوامو دفکر، خیال نتیجه ده لاکن بیاهم په هغو تولو منطقي

---

* ایشان و پتر ها به بای عجمی و تای قوقانی خفیفتین به ضم اول وفتح
و تشدید ثانی و رای متصله به منزلهٔ پسران و بهار جاها به با ی مو حدهٔ
ثقیلهٔ ممدوده و رای مو قوفه و جیم تازی خفیفهٔ ممدو ده به منزلهٔ زنا ن
پسران باشند (تحفة الهند ج ا ص ۳۶۳)
غیاث الدین په خپل لغت کی هم راگونه شپږ ښوولی دي، چی نومو نه
یی دادی: «راگ اول: بهرون، راگ دوم مالکوس ، را گ سوم
هندول، راگ چهارم: سریراگ، راگ پنجم، دیپک، را گ ششم:
میگه) (غیاث اللغات ص ۴۵۸ـ۴۵۹ )
ارواښاد بهایی جان کشانی (۱۵۳۱ ه ش مړ) دخپل کلیات (خطی=
مخطوطهٔ ارگ نومره: ۲.۱) په پای کی دغه مقامو نه دشپواو ورځو او
ساعتونو په تفاریقو داسی ښوولی دی :
«دورځی: تلنگ: ۷ بجی، نیریز ۸ بجی، بیرومی ۹ بجی، ساوری: ۱۰ جی
سارنگ ۱۱ بجی، دیس ۱۲ بجی، ملتانی :۱ بجه ،بروه : ۲ بجی، پیلو
۳ بجی، جو ك: ۴ بجی، نټ کلیان: ۵ بجی، سیگل: ۶ بجی؛ دشپی: شام-
کلیان :۶ بجی، شانه: ۷ بجی، درباری: ۸ بجی، بیم: ۹ بجی . کو نسیه
۱۰ بجی، پاری: ۱۱ بجی، مکوت، ۱۲ بجی، بیاك ۱ بجه، سنی: ۲ بجی، بارسن
۳ بجی، کماچ: ۴ بجی، اسا: ۵ بجی» **

اشعارو مشتمله ليده کيږي چې «ارسطو» هغه ادبيات په خپل منطق کی (۹) برخی بولی . داخورابل ډول عجيبه خبره ده چې پښتانـه بـی له دې چې دارسطو پـه ادبـی ويش دې خبروي خپل ملی ادبيات ئی طبعاً دارازمرتب او با قاعده جوړ کړي دي . نـوکه څوك ددې ادب تطبيقات دارسطو لهتقسيماتوسره وکی داکثرو تړوتړو په مربوطه اشعاروکی بـه هغه (۹) برخـی منطقی اشعار بيامومی ، چې ارسطو پرهغه ويش قائل دی اوخپل منطق کی ددوی څيړنه کوي . دلته زه هغه اتلس تړوتړی ملی ادبيات دارازشميرم :

---

** په پښتوادب کی پردغومقامو نو برابرې سندرې شته، اودرواجيدو مهال يی له ۱۸۵۰ ع کال وروسته اټکل کيږي . پهلره پښتو نخوا کی ملك نوروزاونورو ډيروشاعرانو دموسيقی پردغومقامونو برابري غزلی ويلی دي. په بره پښتو نخوا کی دکندهاردسيموځينی شاعران دموسيقیله دغوروشونوسره بلدديِ اوله دغومقامونوسره سمی غزلی لري . دپښتوغزلواواولسی اشعاروکومی مجموعی: چی د: بهار نوروزي، جشن نوروزی، بهارگلشن، گلشن نوروزي، چمن فيروزي ، گلزارپښتو، گلزارمحبوبان، گلزارسيداحمد، او بهارجانان پهنومونو خپرې شوې پهدغوتړولو مجموعوکی بی دځينوغزلو پرسردعنوان په توگه ديوهمقام(لکه: پاړی، شام کليان او نور ...) نوم ليکلی وی او بيابی غزل ورپسی راوړیوی .

۱- لنډۍ
۲- سندرې یا ټپکی
۳- دګډ اتڼ بدلی
٤- دورواتڼ نارې
٥- دغښتلی اتڼ نارې
٦- دګرندي اتڼ نارې
۷- دخرڅبانیو بدلی
۸- دپلیوورابانیو بدلی
۹- دسپرو ورابانیو بدلی
۱۰- غزل یاسپرې بدلی
۱۱- چهاربیتی یا څلورټوټی
۱۲- نه ټوټی یا متسع اشعار
۱۳- د مجلس بدلی
۱٤- دنقلو بدلی
۱٥- دناوې درا ایستلو بدلی
۱٦- دناوې د سپریدلو بدلی
۱۷- دلوګریو بدلی
۱۸- دکوچنیانو للوالو

«۱»

## لنډۍ

دایو رقم اشعاردي چې اکثرآ په دوی کی لومړی پلا دردیف لحاظ نکیږي بلکه هر فردئی ګوښی ګوښی ردیف لري.

بل داچې عموماً لومړي مسري ئې لنډه؛ او دوهمه ئې اوږده وي. دارازچې له ځېلې لومړۍ برخې یا مسرې سره دوزناو تقطیع له رويه هیڅ برابر والی نلري. آهنګ یالحن او نغمه ئې هم په لومړۍ برخه کې لنډه، وروا وپه دوهمه برخه کې اوږده اجرا کیږي. دا ډول اشعار په پښتو کې خورا ډیر دي. له مفهومه څخه ددې اشعارو دا معلومیږي، چې حسي مناظر دانفعال په ډول دشاعر په وجدانا تو کې اغیزه کړې بیا دهغې اغیزې، عکس العمل دشاعر له کومې څخه دشعر په څیر ښکاره شوي وي، ځکه استعارات او تـــول مفهوم ددې بدلو غالباً حسي شیان دي، چې مبالغه او خیالي څیزونه خورالږ پکې استعمالیږي. نو دا رقم اشعار ځانته او مستقله برخه

---

(٤) هغه وخت چې استاد جلالي دغه رساله کښله، نو ښایي په دغسې تحقیقاتو کې دانه وه باب شوې، چې د پښتو داولسي عمومي او خصوصي سندرو، دهرې مسرې تول او وزم دهجایي (سیلابیك) سیستم لـــه مخې معلومیږي دمسرې اوږدوالی، لنډوالی دسندرو دشکلي خصوصیاتو په څرګندونه کې دومره پدل نه لري. دا استاد جلالـــي تر کښنې یو کـــال وروسته پوهاند رښتین په خپله یوه مقاله کې د لنډیو مسرې په سیلابیك سیستم سره جلا کړې، او دا یـــې ښولي دي چې دهرې لنډۍ لومړنۍ مسرې ۹ او دوهمه یـــې ۱۳ سیلابه وي (وګورئ! کابل کالنی ۱۳۱۸ ص ۴۸۹، پښتو ادبیات)

دپښتنو د اصیلـه‌ادبه څخه شمیرل کیږي‌او هغه‌ریالست Realist (۵) «حقیقي»ادب دی چی دیورپ په‌ادبیاتو کی ئی تنکی (تازه) شهرت بیامیندلی او پخوا نه‌و. دمثال په‌ډول :

۱ـ دارسطو هیرویك Heroic یافخر او حمـاسه: دپښتو حماسی اشعار لکه‌چی پخوانی کلاسیك اشعار ونا ممکن خیالی شیان در لوده‌دوی مبالغه‌ئلري او حقیقت په‌دې اشعارو کی بیانیږي. موږ چی دښه‌مرغه‌دا ډول حماسی اشعار دپښتو په‌ملي ادب کی خوراډ یروینو. علت‌دادی‌چی پښتون هغه‌راز چی‌یو بریالی او توریالی تبردی. طبعاً هرسړی دد ی اشعارو روح لري، او په‌شوق سره‌ئی جوړوي، لولی‌یی‌غوږو رته‌نیسی لکه‌دا توتپی :

په توره‌تـوپك ویشتلی راشی دبـی ننګی زغ دی‌رامشه تـروطنه
په ننګ که ومرم ماتی نکړم څکه ماپـی د پښتنی رودلـی دینه
توري وهـه بـرې به مومـی کـه‌بری نه‌ؤ څوانان تل په‌تورومرینه
که‌له‌میونده‌روغ راستون‌شوې خدازولالیه بی ننګی ته دې‌ساتینه
په تـوروتپوك‌تپوك‌شی مـړمشی چی‌پرهار ونه‌دی ګندم‌خوله‌در کومه

---

(۵)ریالیزم دمعنی داتساع له‌مخی دژوند اوواقعیت‌څرګندو لو ته‌وایـي، نو په‌دې اساس‌هغه ټول‌ادبی آثار چی‌ژوندیـې په واقعی اوربښتینی ډول بیان کړی‌وي، ریالستیك‌بلل کیږی، او دهمدغه‌تعریف له‌مخی باید ووایو چی په‌ادب کی دریالیزم ریښه ډیره‌لـرغـونـی او پخوانی‌ده (ادبي څیړنی، دخیرو ندوی‌روهی).

۲ ـ دارسطو ليريك Lyric ياعشق او غرامي: دادول لنډۍ سر بيره پردي چې دارسطو پرعشقي ادبي فورمول مطابقت لري. اماغالباً په خپل ادبي مفهوم کې حشو، زوايدنلري او له حقيقته څخه حکايت کوي، لکه دا توتي:

پـر بـام ولاړه يـم څنګيـږم | له خوبه نه يم ديارغم غلطومه
تر تـاد غـم لاوفـادار دی | تـه کله کله غم دې تـل راسره وينه
ماچې داستا په خولې ګـل کې | په موره يويې نظري به شي مينه
خدايه کوچې په کوچ روان کې | چې ښايسته بدر نګې ګډې ودې شينه
دتاد دوو سترګو د پاره | وطن مې پريښو دهمسايه دنوروشومه
چې سالووا له دې زړه غواړي | دکـډوسر په اجـاره واخلـه مينه

۳ ـ دارسطو اپي تيتيك Fpithetic يامدح، صفت: اماد پښتو پـه ملي مدح، صفت کې دامفهوم دادول په شعر کې راوړل کيږي چې په هغه کې حشو، زيادت نه وي او پـه شعر کې حقيقت دمدحې يـا صفت په ادبي ډول ښکاره کوي لکـه دا توتي :ـ

تر خياليګر اشنامې جار کـې | لکه کجير تر مر کو نډۍ ګوري ملکو نه
يارمې په جنګ کې توره وکړه | څکه همځولي راله کو ښې سمو ينه
دا کبرخان غازي په توره | وطن ربنا شو دښمنان پرماتې څينه
که جهان مري اکبر دې نه مري | يو خو ښه ځوان دې بل ئې کړي جهادو نه

٤ ـ دارسطو ساتير Satire چې ذم او هجو ته وايي : دلته مثال راوړل دداسې لنډيو مناسب ګڼم، چې په هغه کې دچاو نامه ته اشاره

نه وي شوي ، لکه دا تو ټی :-

موزي پر تـوره تبه نـه مري　　　سبانا کام دی شمبلکار بهور کومه

ياري دتور ځلمـی مزه کـا　　　دا زيړغولن په لښکر ماتی ګـډوينه

موزي له جنګه تـرپله وکـړه　　　په پرونیور کړي خو له پيښمانه يمه

۵ ـ دارسطو دراماتيك Dramatic چی پښتانه ئـی ساندې(٦) او عرب ئی مرثيه بولی .

دادول لنډی پښتني نجونی، ښځي دوير په وخت کی بولی، دوفات تاريخ يادمړه مړانه هم په دې راز شعار و کی بيانيږي لـکه دا تو ټی :

ماته قلم، مشوانۍ راکئ　　　ديار تاريخ د زړه په سرووينوليکمـه

(٦) ساندې: ژړا، انګولا، په مړی پسی ژړا، دغم ژړا (ظفر الغات ص ۵٦۵) خو په فولکلوري ادبياتو کی ساندې هغه سندرې دي چی پـه مړي پسی دژړا په ترڅ کی په خاص ډول ويلی کيږي . دغه ډول سندرې په زياترو پښتني سيمو کی شته ، چی ځينی پښتانه يی ستاينی هم بولي ددغو فولکلوري ساندو يوه نمونه داده :

ارمان ارمان دی زماپلاره　　　بيا به دې ونه وينم په لاره

دادنيا در باندې ورانه شوه له واره (دپښتو نخوا دشعرها رو بهار ص ۲۰۸) او خو دمرثيی په مقابل کی موز «ويرنـه» استعمالو . او دا هغه سنـدرې دي، چی شاعران يې دچاپه رثاکي نظموي ، لکه محمدهوتک چی کښلی دي : «هسی ويرنه يی په وير دخپل ورور مرحوم وويله» (پټه خزانه ص ۱۰۹ خلرم چاپ)

گلان له خاور و پیدا کیږي زمالالی تر گل نا زك خاورو ته ځینه
یارمی دلوړ و ځنغوزی و زسانی وچ کئ، مرگی اورورو اچاونه
توری ځاځی به روغه وکه ارمان می ته یې چی دخاوری زړوینه
سترگی ئی مه پټوی دخلقو! روح ئی معطله بی وفایا ریادوینه

۶- دارسطو اپو بیلك یاجدیات هزلی: داپه پښتو کی یورقم لنډی دی چی په ظاهره جدی معلومیږی، لیکن په حقیقت کی تو کی مسخری ځنی مراددی استهزا هم له دی زیله څخه شمیرل کیږی کله کله اپو بیلك حماسی اشعار و ته هم وائی، دمثال په ډول :

موزیگی بیامیرانه وکړه په ایرو مږخرئی په توره وواهو نه
دموزی سترگی دلیوه دی دار دکا ته ئی له غوایی زده کړی دینه
زړه می نری شولکه لوته دسهار بادئی ریزدوی لکه کمرونه (۷)

۷- دارسطو بورللك یاهزلیات جدی: دایورا زلنډی دي چی په دی حربه پښتانه شاعران غواړي په هزلی ډول دود ونو، عادتو- نو باندی حملی وکی. نودارازاشعارپه ظاهره توکی، مسخری معلومیزی، لاکن په معنا کی پنداو نصیحت وی چی په اریدونکو اغیزه کوی، اوله بدودودونو څخه ئی ژغوری لکه داتوتی :-

(۷) ددغی لنډی دوهمه مسرعه په ځینوسیمو کی داسی: «دسهار یادبی خوځوی لکه دیوال» دغسی لنډی چی هزلیات ولري په پښتو کی خورادیري دي، او دغه لنډی که څه هم خندوونکی دي خو دژوندځینوواقعیتونو ته یې ډیرښه ځای پکیورکړی وي .

خدایه زړې بدی تازه کی چی در خدار و په خولو پر یو تل گر دو نه
ماله ملنگ بابارا کړي بنگسا په لاس کی لمو نځ می نز ده قلندر یم
راځه چی دوا ړه ملنگان شو چرس به وهو چرگان به جنگ له ساز ووږه

۸- تریا دارسطو (Tragedy) یا مصیبت او نوحه: دا هغه راز لنډی دي، چی په بلاوسره ئی شاعرغوا ړي دبل چا احساسات متاثر کی دابرخه اشعاردمر ثیی څخه دومره فرق لري، چی په مرثیه کی دمړه تاریخ دوفات اونور صفات دمړه بانیزي. لاکن په تریا ئی اشعارو کی مطلب دادی ، چی بل چا، له یوې فاجعی څخه په بل چاویر خبر گمد کئ یعنی دیوی فاجعی حکایت په ادبی ډول ونسوروته ور وارووي، اودوی احساسات متأثر کی، لکه دا توتی:

دسو ر کو ندو ماتی به ژاړم روپی ئی کوراو ربل ئی خاو رې ژړوینه
دمومن موری ماتم مکړه تر ده لومړی دظفرخا ن جنازه ځینه
موري دا سرې کپی می را کـه
دمومن خان ترسره ورل لاندې به ځمه
لـه پا سه جړې او بـه را غلـی
دمومن خان نیلی به چیر ې او به وونه
که زه خبر وای چی بیلتون دی
مابه جانان ترلاس نیولی گر زاونه
گورستان شل گره کز هـی دی
جانان کوزیزي دناکام په تداونه

۹ـ دارسطو کمودیا Comedy هغو مضحکو ټکو ته وایی، چی پرار و یدـ ونکوا ثر کوي اود وی په خندا ر اولی . او مطلب ځنی ورښود ل دملت داخلا قو وي، چی دمسخرو په جامه کی و نغاړلی شی، او غواړي چی په دې ذر یعه جامعه و یښه کی. دا برخه ادبیات د تریا (نوحی او مصیبت) مقابل بلل کیږي ، او نن په اروپا ئی اشعار و کی خورالوړ مقام لري .

مثال ئی دا ټوټی دي :ـ

خلق د بل وطن خواري که

ما په دوه سار یو کی لخ کړ ي کاروانونه

تور ي و هم بی ننګه نه یم

نن می تر بره لره وهلی، سنګر ونه

سر می تر خپله کونده جار د ی

پټی به ګرو کم مر کی به ور لیږ مه

ځوانانو زور په د هقانی کړ

سپینی پایځی د رو پوځلی ورانو ینه

دد ې پورته اشعارو څخه دا معلو مه شو ه . چی هغه (۹) برخی منطقی اشعار ، چی ارسطو دهغو پر ویش قایل دی ټوله په دې برخه کی چی موز ږ لندی و بللی موجو د دي، او سر بیره پر دی دالندی نور اقسام هم لري، چی هغه برخه د عربو پرادبی ویش لا هم زیادت کوي . هغه تطبیق یاداز یاد ت د پښتو ادبیاتو کی له دې حیثه ندی نیولی شوی، چی پښتنو دارسطو یاد عربو پر پله تګ کړی ، بلکه د ژ بی استعد اداو دادبیاتو ا صالت طبعاً

دهغو اد بی قواعد په خپلو ملی لنډیو کی ر انیولی او په ځینو تو تو کی پر مخ هم تللی دي، لکه دا کښته مثالونه :—

۱۰— دعر بو تهدیدي اشعار، چی پښتانه ئی د بیر ولو، لنډ ی بولی .

دا یو رقم اشعار دي چی دد ښمن دبیر ولو دپاره تیا کلی شوي، او ضمناً ددې لنډیو په ویلو کی وخپل تبر ته هم دز ړه داډور کوي، لکه دا لنډی:

دپښتنو د ښمنی مه کړه بیا به ناري وهی چی ورك شوم له ملکو نه !

یو وارخو ماله په جنگ ر اشه چی د آسمان ستوري په ورځ در و ښیمه

۱۱— د عربو تصوفی اشعار، چی پښتانه ئی د «مولا دمینی» تکی بولی .

دا یو رقم اشعار دي چی وارویډ و نکی ته د زهد او تقوی ترغیب ور کوي اجتماعی اخلا ق و ښوي، لکه دا لنډ ی : —

په آخرت بـه اجـر غـوارم په دې فانی د نیامی تیر کړه ز حمتو نه

په دنیامه نـازیـږه یـا ره له شاه جهان باد شاه نه پاته شوه ملکو نه

پر پیغامبر مـی سـلام وایـه امت د ډوب شو د گناه په دریابـو نه

عالمه یو تر بل جـار یـږئ ماد پلو و یاران لید ه چی خاورې شو نه

پل د صراط به ور له نیسـم تر مستغنـی آشـنـا بـه غیـږ چـا پـیـر و مه

۱۲— عتاب چی پښتانه ئی «ادبی ترټنه» بولـی. دا ډ ول اشعـار غالباً د آشنایانو په مخ کی دگیلو په د و د ویل کیږي، لکه دا لنـډی :

که می ته روغ لیو نی نـکړې بیامی خیالی ځد را نه مه بـو له میـنـه

چی ما ویل هغه دی نـکړه* خاورې ایرې شوې او س دې باد راپسی وړینه

نه می څوك ؤنه په ښه راغله په ناقرار زړ گی می راغلو ډ یرغمونه

مسلماني په چا کې نشته     دلاس بنګړي مې خرخوي ماښروينه

۱۳ـ اعتذار، چې پښتانه داراز اشعار کم لري، دا يو رقم ادب دي چې څوك په ادبي کيفيت له کومي ګرمي څخه بخښنه غواړي او ځان ملامت شميري، لکه دا لنډۍ:

که زه خبر وای چې مومن دی     ما به خوني ظفرخان ولي ويښه ونه

لاليه راشه چې درجار شم     بيګاني مړ په خوب ليدې وبيريدمه

که ګرمه يم ناګاره نه يم     د مرورلالي و پښوته به ورځمه

له خپله لاسه مي پسې مړ کې     چې دزې وشوې زه پر بام ورو ختمه

نجوني په ګل ميني کيږي     زما له سمباله باغه وخاته لاسو نه

مخ په مړوند کله پټيږي     کاپره ياره سلامي ولاړه يمه

۱٤ـ ادب يا حکمت، دا يو رقم اشعار دي چې فلسفي افکار لري او په دې اشعارو کي کله پند او نصيحت بيانيږي. پښتنو شاعرانو داراز اشعار پخپلو ملي ادبياتو کي خورا زيات ويلي. درنه برخه په ملي ادب د پښتو کي لري، لکه دا لنډۍ:

جهان دژوند خالي بازار دی     د عمر بيه بل څه نشته بې له غمه

ماد اوزدې لارې کتلي     زه دې له لنډ ولاړو څه خبره ومه

اسلام کښتي کفردرياب دی     شيطان نهنګ دی عالمونه دوبوينه

د مسافر و ازار مه وړه     بيابه نارې وهې چې وسوم په اورونه

او ښکي مې پريږده چې بهيږي     د يار له وره بې نوا راغلې يمه

خلاصه داده چې دا برخه ملي ادب چې موږ ئې لنډۍ بولو. دادول

اشعاردي چې په طبیعی راز ټول اقسام دعصري ادب ، لکه تبریك تحذیر ،خوش بینی ، بدبینی ، تحریص، تشویق، یاس او نور ې ادبی برخې یې پرتې دي ، او هر مفهوم په دې اشعار و کې په ډیره نازك خیالی په شعر کې راوړی شوی دی. ددې لنډیو شاعر معلوم نه دی. گرده پښتانه ددې لنډیو شاعران دي . او هر باذوق سړی لږاو ډیر له دې لنډیو څخه لري . دلته په دې مقاله کې تفصیل د ټولو اقسامو نه ځائیږي بهتره ده چې دابرخه پر دې ځای لنډه کو .

«۲»

## سندری یادپښتو ادب موزونی ټکی (۸)

دایو راز اشعاردي چې غالباً اولی او ځینی دوهمی مسری ئې په شمیر دتوریو (۹) کې سره برابرې دي . دغه سندرې که څه هم یو مخصوص لحن لري ، اما قافیه ددو بیتونو ئې یو راز نه راځی . یوازې لومړی اودوهمه مسری دقافیې له رویه مطابقت کولای شي. یو بیل فرق لري ، چې په

---

۸ ـ دغه سندرې چې استاد په لوړ نامه معرفی کړې . په عام ډول دښادی او په خاص ډول دواده سندرې دي چې دواده په ځینو مرحلو کې : یعنی دناوې دسر داو بدلو او د ناوی دسپرولو په وخت کې ورته دکلیوالو ښځو له خوا ویلی کیږي ، او ناوې په ژړوي . په ترینانو پښتنو کې دغه سندرې د«الله موری» په نامه یادیږي .                    (ترینو ص ۳۵)

۹ ـ له توریو څخه داستاد جلالی مراد گرافیمو نه دي ، چې داولسی سندرو په شکلی څرگندونو کې دپام وړ نه بلل کیږي ، بلکه سیلابونه یې دپام وړ دي .

سندر وکی آخیرنی برخه دهري مسری تکرار ، دوه یادرې واري ویل کیږي ،سندرې دپښتو په ادبیاتو خورا ډیر اقسام او اوړ مقام لري. نجونی دناوې دسراودلو په وخت هم یو راز سندرې بولی وناوي په‌ژړاراولی. په‌بل‌عبارت داډول‌اشعار تر اژدي ( ویرناکی) درامې بللی کیږي چی پر اوریدونکی خورا رقت راوړي ، لکه داتوته :

ژاړه ژاړه پـه کـریـږو کریـږو آبادې پټ دې پـه وړو تیږو
پـه کـر یـږ و کـو یـږ و پەوړوتیږو، پەوړوتیږو

* * *

پەسیل کی کښینه چی دې لمده که آبادې نشته چی دې درنه‌که
چـی د لـمـد ه کـه چـی دې در نـه کـه

* * *

غیلی‌لاښی‌دي چی‌مخ کورځی زیاردخوری دی‌چی‌مخ‌په‌چول‌ځی
چی‌مخ په کـور ځـی چـی مـخ پـه چو ل ځـی

* * *

ترکلاپورته نجونی‌دې بولی اوربل‌دې‌وران‌شوماتوی‌دې‌گوري
نـجـونی دې‌بـولـی مـا تـو ی دې گو ر ي

* * *

اوښه ته و خورې دالوی ورنونه پرشادې‌یووړې بی‌موره‌نجونه
د ا لـو ی و ر نـو نـه بـی مو ر ه نـجو نـه

* * *

سهارسبادی بلبل چغیږي　　د دول دنگاشوه‌ورارا توليږي
بلبل چغیږي　　وراراتو لیږي

***

ژاړه‌ژاړه خودې رضاشي　　مورکی دې نشته چی در پخواشی
خو دې رضاشي　　چی‌در پخواشی

«۳»

## دگډاتڼ ناري

دابدلی په هغه وخت کی ډللی کیږي،چی دنجونو اتڼ خوراتود او هغه مدوره حلقه داتڼ بازونجونوسره گډه شی. دابدلی اکثراً دري مسری لري،لومړی،دوهمه‌مسری ئی لږ څه‌ورویله کیږي . لاکن دریمه مسرې په خورا تودزغ بولی. څلرمه پلانو بیا هغه دوهمه مسری تکراروایی. ددې راز بدلواوله،دوهمه‌مسری‌لنډه اودریمه ئی اوږده‌وي .

«٤»

## دورو اتڼ یا داتڼ دشروع ناری

داناري په‌خورا متانت سره‌داتڼ له قطاره پورته کیږي. یا په څنډ ډللی کیږي. لومړی‌مسری‌ئی پرخلاف‌دلنډ یوا وږده،اودوهمه ئی لنډه‌وي. یومخصوص لحن لري چی هغه له ورووروگرزید لو داتڼ بازانو سره مناسبت ښندي.ددې بدلوداولی اودوهمی‌مسری قافیه یوراز یعنی مقفی وی او دپاره‌ددې خبر ې چی دنارې وزن

برابر کی، نو لومړی پارت داولی اودوهمی مسری دوه ځله بولی.
بل داچی لومړی مسری پر دوهمه باندې څه قــدرراوزده راځی
لکه داتپکی :—

تور دی دمستانی— اوکه تور دی دمستانی — او ... پیکی توردي
اور بل ئی اړولی — اوربل ئی اړولی— او ... لور په لور دی

«۵»

## دغښتلی اوبا ترتیبه اتڼ ناری

داناري هغه وخت په اتڼ کی داتڼ بازانو لهخوا شروع شی
چی داتڼ لومړی پارت څه قدر بدل اوتودشی. ددې بدلو لومړي
مسری په نسبت ددوهمی خورا لنډه اودوهمه فوق العاده اوزده
وي، لکه دامسری :

جدائی راغله لارې دوې شوې کمکی میر علم جانه
اوردی میرعالمه* کمکی میرعالمه جانه*

اوجداجدابهسره ځوو یشتلی زړونه
*ماول اوردي
اودسپرو درغله فوجونه
*ماول اوردی

دلته معلومه شوه، چی شروع ددې بــدلی پهلنډیو کیــږي، اوورو سته
تر بللو دنیمی تکی یوه جمله له څلرمه پارته ددې بدلی راوړه کیږي .
بیا پهدوهم پارت دلنډی بنا کوي، چی هغه وویل شی، بیا یوه جمله

له اخره رسوي . له‌دې مجموع څخه يو راز مخصوصې نارې جوړيږي چې پښتانه ئې کله په‌دې ډول اتڼ کې او کله‌دډول دمخه په‌حال دحرکت کې بولی .

«٦»

## دګرندی اتڼ نارې

دانارې په‌هغه‌وخت کې بللې کيږي، چې اتڼ خوراتود شي او زلميان‌سره‌اوړي . په‌منځ‌ددې حال کې يوڅو تنه په‌ګرندي حرکت مخامخ پرشااو پرمخ تګ کوي‌دانارې کوي، لحن ددې نارو سيلابې وي‌چې هغه‌ددوی‌دپرمخ پرشا ګرندي حرکت‌او ځالاکه اوښتلو سره خوراښه مطابقت کولای‌شي: دابدل هم دلنډيو څخه جوړيږي اولومړی مسری تردوهمې څه‌لنډه‌وي امافرق‌دادی چې يوه جمله وروسته له‌ويلو ددوهمې‌مسری بيا بلله کيږي . په‌دې‌حيث داترکيب نارو لره‌يو عجيب کيفيت ورکوي،چې‌هغه په‌اروېدواړه لري،لکه داتهوته:

مولا دبله زير مه‌وکه*ولاړه يا ره

زمالغاړې‌اوزې‌مه‌کازه مينه * ولاړه يا ره

«٧»

## دخرڅبانيو بدلی

دابدل‌هغه وخت ديوې ټولۍ په‌واسطه بلله کيږي،چې‌هغه‌ټولۍ وډول‌ته مخامخ‌لڅ‌سرونه‌ولاړوي.ډول ددوی‌دنغمې پيروي کوي

نو یـکه یـکه ډنـګیږي . لومړی مسری لږ څه لنډه او پهٔ تاء نسی ویله کیږي ، لاکن دوهمه مسری چی تر اولی اوږده وي دا بالـکل سیلابی او په خور امستی بلله کیږي ، لـکه دا :

که زیارت کړم نه رارسیږي * لالیه ګل می راوړه
یاتڼګه زه یم یاتڼګان دي زیارتونه * لالیه ګل می راوړه

«۸»

## دپلمیوورا باتیوبدلی

داراز اشعارخوراډیراقسام لري ، اوورا باتی دقدرة خاوندان وي چی پرلارې که څه هم زیاته فاصله لري ، پرخپلو نـارو دوام وکی وخت په وخت کـولای شي چی دا ډول دلارې نارې بـدلی کی ، دلته دمثال په ډول یوه ناره لیکم :

خدایه دنیلو قدر کم کی * وای شین کالی ډیرشوه اوس خپل یار نه پیژنمه
مکړه ډیره مینه لیونی به شی مینه (۱۰)

دابرخه ، درې تو تی لري ، چی وزن یی دلنډ یوله وزن څخه جلادی ، او سرود ئی هم په مخصوص آواز سره دیوې ډلی له خوا اتړل کیږي . درې سره مسری په متانت او تاء نی بولی او کله کله کم مست زلمی یوه چیغه هم ور سره کوي .

(۱۰) ددغی سندرې بل ډول داسی دی : «ډیره مینه مه کړه لیونی به شی مینه» (غرنی سندرې ۱۴۳) دغه سندره په اصل کی لنډکی (پراکه) ده . چی یوه خورلس سیلابیزه مسری وي .

«۹»

## د سپرو را با نیو بدلی

دادول اشعار هم خوراډیر زیلونه لري. په مخصوص کیف ، او بیلو بیلو نارو بللی کیږي. اما په گردونارو کی سیلابی کیفیت ددوی دسپرو له ګړندي حرکته سره برابر ، او دمفهوم له رویه هم اهرفتاره څخه حکایت کوي لومړی پارتئی یوه لنډۍ وي ، وروسته یو مخصوص فردپر هغه سپریږي. دااخیرنی فردموزون او دواړه مسرۍ ئی په شمیر د حروفو کی سره برابر يدي ، دلته د مثال په ډول یوه نارهرا وړه شوې او هغه داده:

دسپرو ماتی په غرمه وي (تکرار) دتورپیکی ماتی له څاښته سره وینه

کله به راشي پښتنو دخیال تیپونه څوانان به هیږي لکه سیل پرسمو غرونه

«۱۰»

## غزلی یا سپري بدلی

دارقم اشعار دپښتو په ادبیاتو کی خورالویه برخه لري ډیراقسام لري. هرقسم له بله څخه دوزن، قافیی، آهنګ او نارو له رویه بیل دي اکثراً په دې غزلو کی هم هغه دلنډیو روح موجودلیده کیږي ، څکه اکه چی لومړی مسرۍ یی لنډه او دوهمه ئی اوږده وي، داراز که څه هم دواړه مسرۍ یی موزونی راځی، اما هره مسرۍ بیله او څانته قافیه لري. سربیره پردې اکثراً لومړی فرد پس له بللو د هره فرده بیا تکرار بلل کیږي ، چی هغه لومړی فرد پښتانه «کسر بولی» هر پښتون غزل یا

سپره بدل نشي جوړولای، بلکه یوا ځی ملی شاعران ددې قسم اشعارو قابلیت لري، چی سپرې بدلی جوړې کی. په هره بدل کی دار ازچی شاعر مجبور دی دمفهوم لحاظ وکی او نازك خیالات په شعر کی ځای کی، دنغمی رعایت اودنار ولحاظ هم وده ته لازمی امر بلل کیږي. ځکه پښتانه یو راز مخصوصی ناري اوشعرې ازانگی لري. نو دپښتو بدل هم باید په هغو پیژندل شوو، ازانگو، وزنو، او نارواو زغوو بلل شی. پردی روحو نلري دلته دمثال په ډول یوه سپره بدل (۱۱) لیکم، توکل وایی:

شالیلا په تور اور بل ایښی گلو نه

اوس روانه، روانه ده په سیل، سیل کوي سیلونه

اوشالیلا

---

(۱۱) دپښتو داولسی ادب په خصوصی سندر وکی: بدلې، دآهنگ، د مسربو د ویش د مسر یو د خپل منځی قافیوي اوهجایی توپیر ونو، د وینگ، دچستی او سستی له پلوه خورا ډیر ډولونه لري چی یو ازی د پښتو په اولسی بدله کی موږ دغه ډول گڼ فورمونه پیدا کولای شو. دپښتو د ولسی ادب نباغلی څیړونکی حبیب الله رفیع کار بویو ولس کاله دمخه دبدلو په شکلی خصوصیا تو کی یوه څیړ نه کړې، اودفورمی جوړ- ښت له پلوه یې ۱۵ ډوله بدلی را معرفی کړې دي (د خلکو سندرې ص ۲۴۴-۲۵۴)

بال پر مې د هجـر ان پـه لمـبو وسو
چاته نه ښوایم دسوی زړګی حالونه* اوشاليلا

شاليلا په تور اوربـل ايښې ګلونه
توکل دتـل صفت د خـال و خط که

سپين دندان دندان دې مرواري شونډان لالونه
اوشاليلا

شاليلا په تور اور بـل ايښې ګلونه

«۱۱»

## چاربيتې ياڅلورتوکې

دا يو قسم اشعار دي چې په څوو زنه سره راځي ، اوخورا ښه ادبې ټوټه ايسي ، هر فرد (۱۲) دچار بيتې که څه هم اکثراً داوو ، اتو او نو

۱۲ ـ له فر د څخه ښايې داستاد جلالی مطلب بندوي ، ځکه که له فرد څخه په عام مفهوم ديو بيت معنی و اخلو نو هغه مقصد چې ليکوال يې ترې لري ، نه افاده کوي ، او دچار بيتې هر بند له اوو ، اتو ، او نهو ټوټو يامسر يو څخه جوړ شوی وي ، چار بيتې دمسريو دويش له پلو مختلفې دي ، بندونه يې هم دموضوع په لحاظ والي ، اوزدوالي اړه لري ، دپښتنې سندرې نومې کتاب ټولوونکو په عمومې ډول دچار بيتو دغه لاندې ډولونه ضبط کړي دي : «څلور مسری ، پنځه مسری ، شپږ مسری ، اووه مسری اته مسری ، نه مسری ، لس مسری ، دولس مسری ، شپاړس مسری اوشل مسری» چې البته دغه ډولونه په ساده او ځنځيري دواړه ډولو چاربيتو کې موندل کيږي . (پښتنې سندرې ج۲ ص ۱ ـ ۱۱۶)

پار و (ټوټو) څخه ر و غ شوي دي. لاکن دوی داډول شعر څلور بیته بولي - دڅلور بیتو هم لومړی ټوټه پس له هر ټوټې تکرار بلله کیږي او هغه هم «کسر» بولي. داغزل یاڅلور بیته شاعر یاآوازي داډول بولي چې پس له شروع څخه هر یو فرد په تنهاسر تر «کسره» پوري رارسوي او کسر نو ، بیاځو تنه نور بولي ، چې هغو ته کسر چیان وائي - لومړی او دوهمه مسری دهر فرد دوزن له رویه پخپل منځ کې تفاوت لري په بللو ددې ډول بدل کې په مجر دچې «کسر» خلاص شي ، شاعر یاآوازي پربل فرد باندې بنا کوي او بیا هغه لکه لومړی پلاتر کسر پوري رسوي داترتیب تر هغو جاري وي چې ټول هچار بیته خلاصه شي ، یوه نمونه ئي داده :

دین محمد ، وائي :

«کسر»

هر گز به فراموش نکړم په مر گ نه په ژوندون          دیار سره لبان می رنگ

زه پو هیږم چې بې نوش نکړم له لاسه دبیلتون          ساقی پیا له دبنګ

* * *

هر گز دیدن دیار که نصیب مې شي یو وار          هـردم یم نـا قرار

زړه مـې پر هـار ځـا ځي ترې خـون          تمامی جامی می رنگ

ستاد مینی په دریاب یاره نشته دی پایاب

هرعاشق لري ځواب دعشق په باب لکه مجنون * دلیـلا دور ملنـګ

هر گز بـه فراموش نه په مر گ نه په ژو ندون * دیار سره لبان می رنگ

# متسع اشعار

یو راز مثمن یامتسع «نه پاري» اشعار دي ، چې په خپله برخه کې خورا جذاب بلل کیږي . ددې متسع لومړۍ دوې پارې کسر دي چې اوله مسرۍ ددې کسر نسبت ودوهمې مسرۍ ته خورالنده اوداېله ئې اوږده وي . پسله دې کسره نو بیا دمتسع مسرۍ گانې شروع کیږي . اما په هغو کې هم هره یوه لومړۍ مسرۍ لنده اومقفی او دوهمه ئې اوږده وي . داراز که لومړۍ مسرۍ موږ یوه پاره وبولو ، دوهمه ئې نو ، دوې پارې لري ، چې لومړۍ پاره ددې دوهمې مسرۍ تر اولی اودوهمې اوږده وي ؛ لاکن په قافیه کې له اولی او څلرمې او پنځمې سره موافقت کوي . دوهمه پاره ددریمې مسرۍ بالکل گوښې قافیه لري ، چې هغه قافیه بیاله آخري پارې سره دهغې شپږمې پارې سر خوري ، چې پسله پنځو پارو راوړه کیږي بیااومه ، اتمه پاره سره له هغه اختلافه چې د وزن له رویه ئې پخپل منځ کې سره لري په قافیه کې سره برابري وي . نمه پاره بیاله گردوجلاد اډول قافیه لري ، چې کسر ته ځانور سیخوي ، دااشعار لکه چې د پارو له رویه یو عجیب ساختمان لري دا ډول د نغمې اوسرود له حیثه هم په خورادقیق ترتیب بلل کیږي . ملازاهد شلگری مشهورشاعرد پښتو په دې راز اشعارو کې خورا تخصص

لري . (۱۳) دده کفایت دده د شعرد مضمون ـه څخه هم ښه تره معلومیـږي دی وایـی :

ستاچشمانومی زړه وړی دی * هیڅ طاقت می نشی د عشق اور رالگیدلی دی * نه می کیږي توان * تورچشمان باښوخدنگ * یاردې کړ رنځورښا پیری ته ښوري په شرنگ * لیرې کړه حجاب * یووارمخ که را ځرگند * زه شوم لیونی ښورم مجنون غوندې ملنگ * عمرمی-

(۱۳) ځنگه چی می په سر یزه کی یادونه و کړه ، دغه ډول شعر ونه چی استاد جلالی یې «یورازمثمن یامتسع (نه پاري) اشعار » بولي داولسی ادب د خصوصی سند رو په گڼو اصنافو کی کوم ځانته صنف نه دی بلکه د سپرو بدلو په گڼو فورمی اوشکلی انواعو کی یوشکل دی، چی موزیـې ځانته نه بلکه د اولسی شعرد بدلی په چوکاټ کی مطالعه کولای شو. او په دې صنف کی نه یوازې ملازاهد بلکه د پښتو د یرنور اولسی شاعران ددی میدان زمریان دی، لکه : صفت- خان ، محمد جی ، سید کمال، محمد د ین، توکل، میرااونور.... (پښتوسندری ص ۱۰٤- ۱۱۲) دو یلوو ړده ، چی بر پښتانه زیا تره بد لی په عامه معنی دټولو سندرو او په خاصه معنی د پښتو داولسی ادب ددغه یوه صنف د پاره استعمالوي ، مگر په لرو پښتنو کی اوس اوس «بد له » د داستان په معنی استعمالیږي، خود دغه سیمو په قدیمو زیاترو ادبیاتو کی هم «بدله» په عام ډول دسندری معنی ښندي . (تاریخ اد بیات مسلمانان ج ۱۳ ص ۳۸ )

خراب * خوب خوراك اه مانه تللی دی *
ځای می تو رځنګل شو له ما پاته کورو کلی دی * ګر ځم سرګردان
عشق غوټه دی د دریاب * څوك ورځنی کازي د چاشی عمر خراب
نه میندو خوند * ځی له ستر ګو می خوناب * ګرزم لیونی صورت می
وچ سیه نه کباب * نشوه راپسنده * له مجنونه می ځان سم کړ *
په خوز یوغنو ، بو تیو می صورت کړم کړم کړ * وسوم په نیران

«۱۳»

## دمجلس یادنیا ستو بدلی

داراز بدلی ، لکه سپري بدلی په ناست مجلس کی له رباب
دوله سره بللی کیږي - امادوزن ، قافیی او تغنی له حیثه بیله برخه
ده پخپل جنس کی ډیري نوعی لري ، چی هره یوه ئی دځانته وزن
او کیفیتو له حیثه موز کزي بدلی بولو ، داډول بیلی ناري ، سرودونه ،
دموسیقی اړخونه هم لري ، چی په پښتو کی خورا دزیات شهرت
خاوندانی دي . په اکثر و کی شروع په ټکیو کیږي او پس له لومړی
مسری دټکی په ځینو کی نیمه مسری ددې بدلی ویله کیږي . بیاو روسته
تر هغه پسله بللو دنیمی لومړی برخی دټکی هغه لومړی برخه دمخصوص
فرد دبدلی بولی . موز هغه فرد محور ددې راز بدلو ګڼو ، او په ځینو کی
لومړی پلادټکی دواړي مسری وایی بیا په پای کی هغه مخصوص
فرد چی موز محور و باله کامل باله شی . دلته ددواړو برخو مثالونه دادي:

آسمان ته‌لار دخنو ، نشته گل ببو ، خوب می راغی
دمځکی سر دی * شیر ینه یاره
راته بلی لمبی کونه گل بیوخوب‌می راغی پلنگ خالی دی شیر ینه یار
دوهمه نوعه :
سبابه لوړ چنار ته خیژم وای باد به پوښتم چی آشنا څه ویلی دینه
لیلو باغ دې یم باغوانه
باغ دې یم باغوانه* دباغ طوطیان ئی لوټ کړه *سباځم له‌خیالی باغه*
لیلو باغ دې یم‌باغوانه
داراز پسله‌هرې ناري‌ساز نده په‌هغه‌تر تیب‌سره‌چی ذکرشو لو مړی پلاوای وبیادامخصوص فرد تکرار بولی. داکیفیت‌دلسوتر پنځلسو وارو پوري اوږدوالەمومی- بیاسازنده‌یاچو پیژي یاپه بله ناره شروع کوي .

«۱٤»

## دنقلوناری

داراز بدلی پښتانه اکثره دشپی پـه ساعت تیر یـو کی بولی، پـه اصل‌کی یوه عشقی یاحماسی قصه یوسازنده‌یانقل‌کوونکی ونورو اوریدونکوته وایی ،اوداقصه لومړی پلاپه‌نثرشروع کیږي، هرکله چی موضوع دنقل معلومه شوه نو بندپه‌بند دسوال وجواب یاحکایی مفهوم په‌دول دناري پورته‌کوي . گواکی‌داراز نقلونه هم نظم‌لري او هم نثر ، چی په دواړو برخو ئی هغه شرع شوي قصه و آخـرته

رسوي . دنثر برخه یوسړی په یادوائی اودنارو په وخت کی پهره

نا ره څو تنه نور هم له نقل کوونکی سره ملگري شی، او پـه گـډ ه

هغه مـــوزونی بدلی سره بولی، لکه د فتح خان بړ یڅ ، دمو من خا ن

آدم خانا و د رخانی، د توردلی، د سیف ا لملـوك و بدری او نور

نقلونه د پښتنو په منځ کی خورازیات رواج لري او د پښتنو فولـکلور

بلل کـیزي. په دې قصوکی خو را ښه معلومات د د و ی له عاداتو

حما سی ژونده، سپیڅلی ا خلاقو څخه سړي ته معلو میږي، او د تار یخی

رجالو کا رنا می پکی ستایلی کیږ ي .

د اخبره هم با یدښکا ره شی، چی د اموزونی بدلـی یا نا رې د

ټولو نقلو یو راز نه دي، بلکه د هر نقل بیلی بدلی او نار ې دي، چی دوزن

او قافیی، نغمی له رویه هره یوه بیله گڼله کیږ ي. ځانته ا غیز ې او

القاآت لري، یعنی د احصه هم داد بی قیمت لـه رو یه هم د تار یخـی

اهمیت له پلوه خورا یوه گرانه برخه ایسی. زه دمثال په ډول د آدم خان

یـو سفـز ی د عشـقی نـقـل ، دیـو ه بـنـد نـار ې لا نـدې لـیـکم :

آد م خـا نـه آد م نـه وې مـا آد م کـړې

سو د اگـر وي د کنجـکو آد م خا نه ما په سپینه ، سپینه خوله مین کړې

* * *

د رخا نیه درخو نه و ې ، درخانیه درخو نه وې ما د رخو کړې

په ما ند ه کی سپین ټکری و ې * در خانیه ما تر ټو لو ، ټو لو نجو نو لو کړې

# دناويړا ايستلو بدلی

دابدل په هغه وخت کی چی ناوې دپلا ردکوره څخه راباسی، اودزوم وکورته ئی ورسپروي . ديوې دلی ځلموله خواد ناوې د پلا ر دکور په مخ کی له د ولەسره په مخصوص لحن سره بلله کیږي ، او وصف الحال ټکی پکی وايی، ضمناً دناوې دخسرګنی تعريف کوي. دابل هم په‌لومړی پلا په نيمه معمولی ټکی شروع کيږي ؛ وروسته نو هغه نيمه مسرئ‌ اديوه مخصوص فرد برخه بلله کیږي . پسله دې چی دو همه مسرئ دهغه ټکی وويله شی، نو هغه مخصوص فرد پوره ويل کيږي ، اوترهغه پورې داتر تيب دوام لري چی‌خودناوي‌راوتنه نژدې شی . بيانوهغه‌بد ل ويونکی د سته‌له‌ورا سره‌يوځای دناوې دپلا رله کلا څخه‌دزوم دکور په‌خواحرکت کوي‌او ځی، بدل‌دا ده:—

بيګادې مسته لادلی وه دادناوې کوردی

اوس به دې چيرې بادوهی دپلوولونه دا داناوې کوردی

په تورپيکی ئی دوړوننډ کیوشوردی دادناوې کوردی

راځه راځه په مخ دې ښه شه که څه موڅه شوې (فلانی جان)

(يودنــاوې لــه اقربــا) صدقه شه * دادناوې کور دی

په‌تورپيکی‌ئی‌دوړو کلداروشوردی* دادناوې کوردی

## دناوې دسپرو او بدلې

دا بدلې په هغه وخت کې چې ناوې د پلار له کوره راباسي ، د خپلې پلرګنۍ يوه ډله همزولې نجونې ورسره وي ، او ناوې وخوينبوته ورسپاري چې په کجاوه کې کښينوي.

په لارې دا نجونې ناوې پنځه ګامه پرمخ راولي، درې ګامه ئې بيرته په شابيائي اوله هرې خوائي ناوې تينګه نيولې وي. هغه ملګرې نجونې دابدلې به يوه تاوده کوي ږولي . او له دې حيثه چې دناوې په بيلتون باندې خفه وي. نو زوم او دزوم پلرګنۍ ته په تکيو کې د ږيغور مسرې وائي او ناوې ته خطاب کوي، يوفردئې دادی:-

ميرزايي قدم راه واخله نرئ لاره جوړه ده نرئ لاره جوړه ده
دسيس لايقه نه وي حکم خداي کړی دی حکم خدای کړی دی

په دې بدل کې لومړی مسرئ په دوهمه باندې اوزده وي، ځکه بيله برخه ونيوه شوه. (١٤)

---

(١٣) دغه بدلې هم دواده خاصې بدلې دي چې په عام ډول دښادی په بدلو کې مطالعه کيږي، دغه ډول بدلې بيادواده په بدلو کې هم هغه خاصې بدلې دي ، چې د پلارله کوره دناوې دسپرولو په مهال کې ويلې کيږي. په دې سندرو کې ځينې ډير مهم اجتماعي او کلتوري مسايل رانغښتل شوي دي، چې په خاصه توګه دهرې پښتنې سيمې او په عامه توګه دټولو پښتنو د کلتوری ارزښتونو په څرګند و نه کې مهم اوديادونې وړاهميت لري دغه بدلې داری پښتونخوا په زياتو پښتنو او دبلوچستان دسيمو په پښتنو کې شته دو ښيځې لهجې په فولکور کې هم دغه ډول سندرې شته ( و ښيځې ٦٣-٦٥ مخونه)

«۱۷»

## د لوګرېو بدلې

دابدل مخصوص د لوګري دغنمو د لو په وخت کې بولي، او ناري ورسره وهي. د دې بدل شروع هم په داډول مناسبه ټکې کېږي چې لومړی او دوهمه مسرۍ په وزن کښې سره مساوي وي. هر کله چې نیمه ټکې وويله شوه. نو بيا نیمه دار ازمخصوصه په وزن برابره مسرۍ، چې لوپکې ستايي، وروسته ترد ې بياهغه نیمه پاته ټکې وايي، چې خلاصه شوه، نو بير ته هغه دلوستاينې مسرۍ راغبرګه کې، بدل داده:

چې لوا ولو رشو خوارۍ زور شوه

لوګه دی اودلونګو * لوګه دی

په بخملې ګوتو به وزې تولو مه

لوګه دی اودلونګو * لوګه دی

«۱۸»

## د کوچنیانو الو

دايوه معرفه بدل ده، چې په هر کام کې رواج لري، اما په پښتنو کې هره پښتنه مورغواړي چې خپل کوچنی دستر ګوتو رکې دشجاعت احساسات ژوندي کې. نو داخپل کوچنی زوی چې لومړی

پلا په خبرورا ولي د حماسي جملو په سرودبیده کوي، ترهغو پورې دابدل ورته بولي چې خوب يې يوسي، اودهغې ثرگندې بدلې ثو فرده دادي :

آلـلولـلو * ياري مه راځئ غلو
بريالی داسی بيده دی لکه گوډی دشپنو
آلـلو لـلو، آلـولـلو
زما كوچنی داسی بيده دی لکه خر كنده پيشو
آلـلولـلو، آلـلو لـلو
آلـلولـلو * دلته مه راځئ غلو
زما توريالی دارا ز بيده دی لکه ستړی دجنگو
آلـلولـلو-آلـو لـلو (١٤)

پوره اتلس برخې ملي ادبيات دپښتو مادنمونې په ډول په دې رساله کې وليکل، البته په تعمق سره معلوميږي، چې هره ټوټه ددې اتلسو برخو بيله بيله برخه اودو زن، قافيې نور وادبی تلازماتو لـه حيثه يوله بله سره مطابقت نه لري. دازاره دتغنی اودبللو لـه پلوه څخه هم هره ټوټه نبست وبل ته جلا جلا شيان دي .

گمان كوم چې اوس به شک په دې خبره کې نـه وي پاته چې دپښتو ادب اوموسيقی په خپل ويش کی دنوروژبوفنونو اغيزې څخه يوازې اومستقل پاته دي .

سر بيره پردې نور هم داسی ټوکران لري، لکه (دزوکړی بدل)

د(ناوی دسرداو دلویدلی) د(غرو ناري) د(مسافـرو دلاري ناري) چی دلته ماد هغو مثالو نه نه دي ور کړي، او نه ځا ئیږي، هیله لر م چی دا موضوع به ژر ترژره د کتاب په ډول ښه په تفصیل سره دو هـمه پلا و لیکم .

PROPERTY OF ACKU 7409

---

(١٤) دمیندو دغه سندري زمادمعلو ماتو لـه مخی لو مـړی ځـل دار مستتېر مستشرق دلري پښتو نخواله سیمورا ټولی کړي او په خپله غینمت مجموعه «د پښتو نخوا دشعرهارو بهار ۲۰۲-۲۰۳ مخو نه» کی يې خوندی کړي دي. دمیندو دغه ډيري ابتدایی سندري په گرده پښتنو کی شته، او د پښتو په معلو مو پخوانیو لهجو کی «ونیځی» لهجه هم دغه ډول سندری لري .